
2
Copy

(۱۸ کال) د اسد ۱۵ - ۱۳۲۷ (۱۰) گڼه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره مجله

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

د پښتو ټولنی له خوا نشرېږی

لوی مدیر : عبدالرؤف « بینوا » د پښتو ټولنی مشر

داخلی مدیر او مهتمم : یارمحمد « نظامی » د صحافت مدیر

پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ
تلگرافی پته : کابل ، پښتو ټولنه

اشتراك

کابل :	۳۶	افغانی
د ننه مېنه :	۴۰	«
دباندی :	۱	سترلنگ پوند
د شونځیو رده کوونکو ته :	۱۸	افغانی

ددی گڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
مظلومه دنیا	ښاغلی (ص،ر)	۱
دپښور پښتو اوپښتانه	له مشرقی اتحاد څخه	۷
دپښتو ملی او تعلیمی اشعار	ښاغلی «جلالی»	۱۷
سپوږمۍ	« « بهائی »	۲۶
افکار سیال	« « سیال »	«
پښتونه	« گل شاه « صافی »	۲۷
دریالیا اشتباه ځواب	« « جلالی »	۲۹
یوه ملی لوبه	« « کړزی »	۳۱
ملګری	د « « واسعی » ترجمه	۳۳
سیرة النبي (ص)	« « کشککی»	
لندکیء پښتو	« « مومند »	
عکسونه (٤) قطی		

مظلومه دنیا

شباغلی ، (ص، ر)

په دی ورځو کی د « مظلوم دنیا » په نامه یواردو اخبار چه له پیښو رنه خپر یږی زما له نظره تیرشو . ددی اخبار مضامین او مطالب ټول پروپا ګندی اودیو خپل ګاو نـدی اسلا می حکومت افغانستان پر خلاف دی . په سر کښی بی (مظلوم دنیا پشاور) اولا ندی تر ي دمدیر نوم عبدالرحمن « ربا » لیکل شوی دی . ددي پورته عنوان په لیدو ما ته د پشتنو بدحال اودمظلومیت دنیا مجسمه شوه اودرحمان بابا او حمید مو مند دا لا نـدی بیتو نه را په زړه شو ل :

په سبب دظالمانو حـا کـمانو گوراو اوراو پیښور در یواړه یودی (رحمان بابا)
غریب خلق مرد گان پکښی ورتیږی ظالمان نکیر منکر پیښور گورشو (حمیدمومند)

دادواړه بیتونه دمغولی اورنـگ زیب په رخت کی دپیښور اود پښتنو دمظلومیت انځو ردی . په خوشحال خو خلـک داورنـگ زیب د دښمنی ملامتی وایی مگر رحمان او حمید له دي تورنه هم خلاص دی ، دوی خالی دخپل وخت اود پیښور حال بیان کړی دی . داغبز په هغه وخت کی درحمان بابا او حمید له خولونه په ژوند ونی راووت مگر نن په مړونی له قبرونو څخه ددوی روحونه دغه ناری وهی او (پیښور ، اور ، گور) دریواړه یوبولی .

ورونو ! دتعجب خبره نه ده ، داسلام په نامه اود اسلام دیردي لاندی پخواهم خلـکو دیرظلمونه اوبي نیاوی کړی دی اواوس ئی هم کوی .

(۲٦۷) کـا له پخوا یعنی دمغلو په زمانه کی نسبت موجوده وخت ته مسلمانی ډیره قوی او کـلکه وه . په دغه وخت کی حمیدله ظلم نه سر ټکوی او وایی :

پند و وعظ د هیچا او ریده نشی هسی رنگ دظلم جوړ شورا شور شو
که په نور وگړی ظلم د مغل دی خدای غمونه کړه داستا مغل زما

* * *

نو که اوس درته څوك دپښتنو دمظلو میت اود پاکستان د زیاتی خبری وکړی باید چه تاسی ئی ومنیء اویقین پری وکړیء . مونږ و ینوچه د پاکستان اینکیانو اوپنجابیانو په پښتنو ډیر سخت زیاتی اوتیری را اخیستی دی . هغه پیشور چه وږی به پکښی مړ یدل ، بربنډ به پکشی پټیدل اودخوشحال خان خبره (چه پکښی خو اږه یا ران دی - پیښور ترهر دیار ښه) نن پکښی خلک له لو ږی مری ، دکفن د پاره گزتوته نه پیدا کیږ ی اوښکلی خواږه یاران پکښی په تر رو تر خو یارانو بدل شو ی دی . نن دزمیندارانو نه په درمندونو کی غلی دانی تښتولی کیږی اودغریب ، مزدور ، بزگر د زړه له وینو څخه حاکم وزیر او افسر لره شراب جوړیږی . نن داقبال دې بیت حقیقی مفهوم پیدا کړی دی :

خواجه ازخون رگ مزدور سازد لعل ناب - از جفای کد خدایان کشت دهقانان خراب

ای پښتنو ؟ ای دماشو مانو په زانگو کی پرتو ؟ اې لکه بت په غټو ستر گوویدو ؟ دخدای دپاره ، دقام دپاره ، دخپل زوزاد او راتلونکی نسل دپاره ، دخپلو بچوړو ، زامنو اولوڼو دپاره ، دخپل ځان ددرانه اوخواږه ژوندون دپاره ستر گی وغړوی ، په ځیر ځیر و گوری اوخلك وپیژنیء ؟ په دې رنگینو او ښایسته جامو کی ډیری ننگینی اوشرمیدلی څیری شته ستر گی پرانیزیء چه نوردرباندی څه کوی اوتاسوورله څه کویء ؟

نوردر باندی خپلی مزی اوچړچی کوی.لکه دڅارو یو مو پیا یی را پیایی او تاسو ور له ځانونه وژنیء سرونه مورته ځوړند اوستر گی مو رته ټیټی نیو لی دی او دیوی ور ځی دیوې مړی په طمعه مودټو ل عمر مر یی توب ته غاړه ایښی ده .

اې پښتنو مشرانو ،خانانو، ملکانو، میا گانو ملایانو، پیرانو !

تاسی چه ټول عمر دغر یبو پښتنو په سر مزې کړی اوخپلی خانۍ مو پرې ساتلی دی په دم درود چل ول موتری هر څه را ټول کړی او ځانونه مو پری ماړه کړی دی اودوی شا مدام ستاسی دوړاندی خپلی وینی تویی کړی اوسر ونه بایللی دی ، آ یانن تاسی د دې دو مره ښیگړ و په بد له کښې دخپل قو م بې وزلو ، وږو تیږو او لو څو پښتنو سره څه و کړل ؟ په څه صورت مو دد وی دژوند غم و خوړ ؟ کوم پوخ اساسی کار مو و ر له و کړ ؟

دکوم تعلیم ، کومی گټی وټی لیار مرورته پیدا کړه او دکوم کار بندمو ورله وتاړه؟ ښکاره ده چه هیڅ مو ور له نه دی کړی او د دی ټولو پوښتنو جواب «نه» دی مگر پوه شی چه پیری په مریدانو او خانی په یارانو ده . دقوم په فنا اوبربا دیدو کی ستاسی بربادی هم پرته ده . سیلاب چه راشی نو لوی اووړی ونې یو شان له بیخه و کاژی او له مخی سره ئې وړی . په سرحدونو او صوبهٔ سرحد کښی دا اوس هم دد غه سیلاب چپی را رسیدلی او دهند لس لکه خلك د پښتنو په وطن راخپاره شوی دی . دایری ، دفترونه ، کارونه ، منصبونه ، اخبارونه را دیوگان دا ټول دپنجابیانو اود هندنه راغلو را تښتید لو خلکو په لاس کښی دی نن له پیښورنه دپروپاگنډیولوی مرکز جوړ شوی دی . ددی پروپاگنډد تو پونو خولی پښتنو ، سرحدونو او افغانستان ته راسمی دی . نن په پیښور کښی داردوقسم قسم اخبارونه لکه « جمهوریت ، شهباز ، مظلوم دنیا » او نور دپنجابیانو په سرمایو نشر یږی او په خلکو کښی دپروپاگنډ زهراو میکروبونه خوروی .

د پیښور رادیو اود غسی نور شپه ورځ لکه دسامری خوسی رمباړی وهی اود خکو په غوژونو او سترگو دغفلت پردی اچوی . نن دپښتنو مرکزونو لکه کوټه ، بلوچستان ، پیښور ، سوات ، دیر ، چترال اونورو ته دپروپاگنډ متخصصین رالیږل شوی دی . دوی شپی ورځ په رنگارنگ خبرود اسلام او پاکستان په نامه پښتانه دټگی توری په دامونو کښی راگیروی او پخی لومی ئی مریوته اچوی .

ای پښتنو ! دبوډی دټال په دی رنگارنگ شنو . سرو اوزیړو کاسو مه غولیږی ، درنگ ساعت له به ئی بل حال وی .

نوم ئی داسلام دی پکښې پټ نور مقصدونه دی دادبوډی ټال دی قسم قسم ئی رنگونه دی په پاکستان کښې دپخوانی او اوسنی حکومت فرق نشته ، خالی رنگ او پوټکی بدل شوی دی .

دپاکستان حکومت محض دملت په اعتبار جوړ شوی دی ، که نه ـ نوتر پاکستان دمخه داسلام نهه پاچاهی موجودې وې لسمی ته څه حاجت ؤ ، پکار داووچه پاکستان له هغو سره بوځای شوی وای . که دپاکستان په رښتیا اسلامی حکومت چلول مطلب وی نو بیاد شریعت په جاری

کو او کښې عذر ونه او بها نی څه معنی لری ؟؟ په خولې د مسلمانی او ایما ندا ری خبر ی
کر دانیږی مګر چه د رښتیاؤ ځای راشی نو بیا مسلمانی خلاصه شی خبره قانو ن او سیا ست
ته ور سیږی .

ای دفکر او عقل خاوندانو ! زه له تاسی نه دا پوښتنه کوم چه اردو ژبه په مذهبی لحاظ
څه قیمت لری ؟ داخو ښکاره ده چه بې له عربی نه نو رې ټولې ژبې اردو ، پارسی ، پښتو
او نوری یوشی دی . نن چه پاکستان اردوله زور ور کړی دی په اخبارونو ، راډیو ګانو
کی ئې ستایی ، خلکو ئې په لیکلو ویلو مجبور وی ، د پاکستان رسمی ژبه ئې بولی
او د پښتنو په وطن صوبه سرحد کی ئې حاکمه کوی ، نو داخدای ویلی دی ، رسول ویلی دی
او که دا محض دوطنیت او ملیت خبره ده او خپل هندی ملیت ، قومیت ته ترجیح ور کول
او خپله ژبه په نورو د پاسه کول دی؟ که نه لازمه خو داده چه د صوبهٔ سرحد رسمی ژبه پښتو دی
. دا دیو نیم کروړ خلکو پخوانی مکمله پخه او اساسی ژبه په څه ددرې نیم سوه کلنی
ژبې اردو څخه وروسته پاته ده چه کوم حق ورته نه ور کول کیږی . هندوان په کشمیر
کښی دوه ملیونه خلکو ته د کشمیری ژبی حق ور کوی او د کشمیر درا دیو زیات
پرو ګرام په کشمیری ژبه دی مګر پاکستان د پېښور په راډیو کی پښتوله دیوې پردی
ژبې هومره حق هم نه دی ور کړی .

باید چه د پېښور اخبارونه ، جراید ، راډیو ، مکتبونه ټول په پښتو وی نو هله به دا یقین
و کړی شی چه پاکستان د اسلام مساوات او وورولی غواړی .

نن خو هغوی په پښتنو خپله خانی او ملکی ټینګ ی . تاسی و ګوری چه د سیند مسلمانانو
په کورونو کښی ناست دی ، لیاقت علی خان له (نهرو) سره په یوه میز ډوډی خوری
او پښتانه ورله لیګادی توری وهی او کشمیر ګټی . کاشکی چه دا بد بختان . بیا په
کشمیر کښی چا پرښودلی هم ، هلته خوئې ورته نور چودریان د سرداران ، چودری غلام عباس
او سردار محمد ابراهیم مقرر کړی دی چه پښتانه به د دوی خدمت کوی او دوی له به کشمیر
ګټی . ډېر افسوس دی ای پښتونه ستا په حال ـ ستر ګی نه لری ، غیرت نلری اینکیان دی
په اوزو سوریږی او تا ورته شاټیټه کړی ده .

ای دغرو ننګیالیو تو ر یا لیو پښتنو اوو یښو ځلمیانو اورشی ء دخپلو مظلومانو ورونو او مظلو مې دنیا پېښو حال و ګوری ء ، دحا کمانو له لاسه پرې څه حال جوړ دی؟ په حق ویلو، په حق غوښتلو ، په حق لیکلو زولنې په پښو بندیخانې له ځی ، دخان عبدالغفار خان غو ندې یو در دمن پښتون چه زیره ئې دپښتنو په غم کی سپینه کړی او پښتی ئې ماتی شوی دی دغسی نور ډېر سر تېر ننګیالی اوغیرت من پښتانه ځلمیان دیو اسلامی حکومت له خوا هد تورو جیلخانو ته غورځیږی خان عبدالصمدخان دبلوچستان او عبدالکریم خان د کلات دخان ورور دوطن او آزادی په نوم اخیستلو سزا مومی نو تاسی په خپله وو ایی ء چه دا کوم انصاف اوعدالت دی ؟؟ دغه ؤ دمظلومی دنیا حال !!

یوه خبره نه ده زه به کومه کومه درته رانیسم . اسلام او مسلمانی خو غټه خبره ده نن ورځ په پاکستان کښی څوك بې اودسه دمسټر جناح نوم په خوله نشی احستلی . عبدالقیوم خان له کشمیر نه راغلی دی او په پېښور کښی ئې په پښتنو څه غوبل جوړ کړی دی ؟ له بلی خوا نه ئې په پښتنو (ډانډاس) نومی انګریز مقرر کړی دی چه ښه ئی ډانډس کا ندی او بڅرې ئې په هوا والوزوی . په دې ورځو کښی پاکستانیانو دځینو بې پتو او نا مړدو پښتنو په کومك «داطلاعات سرحد» په نامه یوه پښتو مجله نشر کړی ده . دامجله چه مونږ و کتله ټوله له پروپا ګنډه او دپاکستانی وا کوالانو له ناوړو او بدو اغراضو څخه ډکه ده . ټول مطلب ئې دادی چه پښتانه داسلام په نامه دځان دغلامی او نو کری دپاره شامدام تیارو ساتی او دوی له د هیڅ شی حق ورنکړی . سرحد و نوته ئی پکښې ویلی دی چه تاسو بایدد پخوا پشان دمرکزی حکومت کراچی سره مربوط اوسیء او دصوبهٔ سرحد د حکومت سره به موڅه ار تباط نه وی . څوك چه دسیاست په چالو نوخبروی هغه پوهیږی چه داد پښتنو دپاره څومره ضررنا که نقشه ده دښه نیت او پاك زړه خبره خو داده چه باید نن دصوبه سرحد ، سرحدانو او ریاستونو ټول پښتانه یو او دیوې اداري لاندی راوستلی شی . دپښتنو دایوتن و جود ټوټی ټوټی کول او په کور کښی کور کی جوړل دانګریزانو سیاست ؤ ، نو نن دپاکستان حکومت ولی په دغه زوړ سیاست روان دی او پښتانه یووالی او نزدیوالی ته نه پریږ دی ؟

که دپښتنو کشران ناپوه دی او پخپله ګټه نه پوهیږی نومشرانو ئی ولی ځانونه کانه او ړانده کړی دی او په پخپلو لاسو خپل قوم دفنا په کندو کی اچوی .

پاکستان دومره زور نه لری چه دپښتنو حق رالاندی کړی مگر دا هرڅه د ځینو پښتنو دلاسه دی چه پاکستان په پنځو پیسو غولولی او دخپل قام مو نډو ښکلو ته ئې اړم کړی دی.

خوشحال خان وایی :

زه په بل غیشی ټوپك ویشتلی نه یم که ویشتلی یم مدام په خپل ټوپك یم

نن د پاکستان حکومت دپښتنو ټول ملی مشران او په قام او ملت خوږ من خلك و نیول او سخت قیدونه ئی پرې وخیژول مگر دیو پښتون پرې تندی هم تر یونشو بلکه لاډېرو بی پټو او بی ننگو ورباندی خوشحالۍ هم و کړې ، دغه خود پښتنو حال دی .

نوای پښتنو! تر کله به په داسی بد حال کی پراته ئی ، تر کله به داسی وزی تېزی گرځیء ، تر کله به نورو له ملکونه گټیء او په خپله به یوه لویشت مځکه نه لریء ! تر کومه به دناپوهۍ پونوره ترزمۍ کی ناست یيء — کوم وخت به رڼاته راوځیء او کله به په تاسی د عقل او شعور نمررا خیژی ؟ کله به موخو د سرله راځی او په ښه او بده گټه او تاوان به پوهیږیء . او س خوستاسی او د څلور بولو څه فرق نشته . لکه د څارو یو د یوه وخت په خوړو بسیا کیږیء او دسبا ور ځی دځیر می او توښی غم درسره نشته .

که چېری دعزت او درناوی ژوند غواړیء ، دنورو د احتیاج او اړتیانه ځان خلاصویء راشیء ټول سره خولې او زړونه یو کړیء ، په یوه مرکز راغوانډشیء ، خیل او خیلو نه ، تپی او قو مونه پر ېږ دیء ټول د یولوی پښتون په نامه را غرنډ او د خپل شریك حکومت اساس او تادو کښېږدی ءاو پښتونستان جوړ کړیء ، په پښتونستان کی ستاسی بقا او په نشت کی ئی ستاسی فناده دپښتونستان دبیرغ لاندی تاسو داسلام دپاره هم زیات خدمت کولای شی اوله دی انفرادی صورت نه په اجتماعی صورت ښه گټه لاس نه در تلای شی .

ای پښتنو ! یوې خواته یواځی اسلام اوبلی خواته اسلام او ملیت د واړه دی اودایقیناً پرهغه باندی غوره والی او ترجیح لری — په اسلامی حکومت پښتونستان کښی هم خرما او هم ثواب دواړه موند لای شیء په پښتونستان کی ستاسی ژوند او مرگ ، عزت او بی عزتۍ سوال دی که ژوند غواړیء که عزت غواړیء نو دپښتونستان دجوړ ولو دپاره ملاوتړیء او په هر صورت او هر قیمت چه وی پښتونستان جوړ کړیء ای پښتنو !!!

سیاحت نامه :

دپیښور پښتو او پښتانه

لیکونکی: قیام الدین خادم

دسر حد دصوبې د«ادبی ټولی» دبلنی په اثر ښاغلی عبد الرؤف خان بینوا اوزه« خادم» دحمل په(٤)پیښور ته ورسیدو، په دغه شپو زه ښارته لاړم، او «بینوا» په صدر کښی دوېزې دمامور صاحب سره پاته شو صبا په افغان بلدنګ (پښتون کوټ) کښی ښاغلی نصر الله خان «نصر»دادبې ټولی مشر ماسره مخامخ شو اوپس له ستړی مشی اوهر کلی څخه ده ماته وویل چه بیګاته په عجائب خانه کښی لو یه مشاعره ده هلته دسر حد دصوبی دپښتو ټول لوی ادیبان اوشاعران را غوند یږی تاسو به هم راشیء اوخپل کوم یو نظم به چه تا سو یې مناسب ګڼیء هلته واوروی ء. نصر صاحب ددی مشاعری درابلنی چاپ کړه لاندی پاڼه را کړه، اوو یې ویل چه زه کار لرم د دغه مشاعری نور را بلل شوی خبر وم نوری خبری به بیا کو و اوس دخدای پا مان !

۲- د نمایشی مشاعرې دعوتنامه

سره ددی چه «ادبی ټولی »نوی د کار مید ان ته روانلی دی. خو ددی ادا ری خد متو نه دنمرغوندې : ښکاره دی. اوس د عجائب خانی دمهتمم جناب عبد الشکور خان دانتظام لاندې دمارچ سنه ۱۹٤۸/۲٤ نه د مارچ سنه ۱۹٤۸/۳۱ پورې چه کوم نمایش کیدونکی دی، د هغی په ضمن کښی دسر حدد صو بی ادبی ټولی فیصله کړ یده چه دپیښور په عجائب خانه کښی دپښتو ادبیاتو او علمی زړو کتا بو نو دنما ئش سره سره یوه د پښتو مشاعره هم و کړی. پدی کښی به دټولی صوبی نامتو اومشهور شاعران : سمندر خان سمند ر، فضل حق شیدا، امیر حمزهٔ شینو ار ی، محمد اشر ف مفتو ن، استا ذسبز علیخان، محمد ا کر م مشهو د، حکیم پادشاه ګل نیا زی، محمد یو نس خلیل، عبد الرؤف بینوا، سید راحت الله راحت

حکیم محمد اسلم سنجری، محمد اکبر خادم، ولی محمد طوفان نصرالله «نصر» لعل زادهٔ ناظر، حاجی خانمیر هلالی، محمد اسلم کمالی، قیام‌الدین خادم میر رحمان غازی، محمد اجمل خټك، قاضی محمد یوسف محزون، کرامت شاه فولاد او محمد شاه خیال را غونډېږی. ددې دپاره چه دطبیعت دجولان میدان تنګ نه وی نو دمضامینو دانتخاب څخه قید لری شوی دی، قید به تش داوی چه د سیاسی پیچیده ګیو څخه به‌پرهیز وی، دامشاعره به‌په‌دغه تاریخ دماښام دا تو بجو څخه شروع کیږی دقلم اوذوق دخاوندانو اواولسی خلکو څخه خواهش کو و چه‌دې مشاعری ته تشریف راوړی، اوپه خپل راتګ سره دی، دې اجتماع ته رونق ورکړی. ددی مشاعری یو خصوصیت داهم‌دی‌چه‌دابه دپیښور په‌ریډیو کښی نشر کیږی‌هم‌چه‌اورېدونکی‌ترې لطف اوفائده واخلی.

«فضل رحمان خلیل دادبی ټولی سکرتری»

ددغه روځی په‌مازیګر ښاغلی نصرالله «نصر» بیا راغی، اوښی خبرې اترې‌مو سره وکړی، ده‌ځما ځینی کتابونه‌او آثارو کتل، اودادبی ټولی دمقاصدو او اصولو پاڼه یی را کړه ده ویل بینوا صاحب خوزمو نږ دټولی‌عضویت قبول کړی دی ستا څه را یه ده؟ - ما وویل: داز ماعین آرزواودخوشحالیء خبره ده دداخلی اویو کال فیس می ورکړ اوپه فارم مې ورته دسخط وکړ. فارم دادی.

۳ - ادبی ټولی

لوی مرکز: برتاکال - پیښور صوبهٔ سرحد

مقاصد

(۱) دپښتو ادب ته ترقی ورکول

(۲) پښتنو زلمو ته‌دتقریر کولو چل ښودل

(۳) امیانو ته په‌پښتو، اردو، عربی، انګریزی اوفارسی ژبه لیك لوست، حساب علم، هنرښودل.

(٤) کلو کښی دکتب خانو او اخبارونو انتظام کول

(٥) دپښتو ښه ښه‌نظمونه اودنثر ښه مضامین قوم ته دکتاب په‌شکل کښی وړاندی کول.

اصول :

(۱) اخستی شری چنده بیرته نه ور کول کیږی.

(۲) مقرر یا شاعر به خپل تقریر یا نظم دجلسی نه مخکښی دټولی مشرانو ته ښیی.

(۳) هر کال به دمیء په میاشت کښی دادبی ټولی نوی انتخاب کیږی.

(٤) په ادبی ټولی کښی ددا خلید وچنده څلور آنی اود میاشتی دوه آنی دی.

(٥) دهر چاد توان سره سم دهغه عطیات قبلیدی شی.

(٦) دادبی ټولی دلوی مرکز «کارندی جرگی» چه کوم تجویزونه پاس کړل هغه به دټولی ټول ارکان منی.

تعهد نامه : زه ..... د ..... ځوی د ..... اوسیدونکی فی الحال چه کوم ځای او سیږم هغه پته داده ..... دین تاریخ ..... نه په دی وعده ادبی ټولی کښی شاملیږم چه زماله وسی څومره کیږی دپښتو ژبی خدمت به کوم. دادبی ټولی دمقاصد وپه پوره کولو کښی به حتی الوسع کوشش کوم.

اود ټولی داصولو پابند به یم

العبد . . . . . .

په ذریعه . . . . . .

دصدر دستخط . . . . . .

٤ ـ په مشاعره کښی شمول

بله شپه ماښام عجائب خانی ته لاړو. هلته دمشاعرې دپورته لیکلی شوی یارانو نه علاوه دښاغلی حکیم عبدالخالق خلیق د پښتون دایډیټر او ښاغلی عبدالحلیم اثر افغانی دمردان د«انصاف» اخبار مدیر اونورو کسانو سره مونږ معرفی شو.

دماښام دمانځه نه وروسته په یوشنه صحن کښی دیوی خیمی لاندې په چوکیو کښیناستو. مجلس دبرق په رڼا مزین ؤ. مائیکروفون په منځکښی ولاړو. دلیکلی شوی جدول له مخی په لمبر چه دهر چانوم اخستل کیدو هغه به ړومبی معرفی شو بیا به ئی خپل نظم پخپله واوراوه.

په دی منځکښی حاجی خانمیر هلالی د«جمهوریت» داخبار مدیر دمجلس دصدر څخه اجازه وغوښته اوویی ویل چه زه غواړم چه حاضر نیوته زمونږ دوه عزیز مبلمانه چه له

افغانستانه راغلی دی یعنی عبد الروف خان «بینوا» اوقیام الدینخان «خادم» معرفی کړم پس له دینه ده مونږ ته هر کله ووایه اومتعا قبا بینوا صاحب پس له یو مختصر نطقه چه مفادیې داوچه مونږ دادب اواد بیانو اواد باو سره علاقه لرو او په سیاسیاتو موا ره نشته اودا گرام داوسید ونکو سره دار تباط ښکاره کو لو نه وروسته په خپل نظم پیل و کړو.

دا نظم دغنمو له .زی څخه چه خپله دبینوا اثر دی داحمد شاه بابا دهغی وینا برخه وه چه ده دپادشاهی د انتخاب په وخت کښی دپښتنو د اتحاد اوتفاق دپاره کړی وه دا نظم ډیر خوښ کړی شو .

دوقفی په منځکښی عبدالحلیم صاحب « اثر » زمونږ په زیاته معرفی شروع و کړه اوپه افغانستان کښی دپښتو نهضت ، پښتو انجمن او پښتو ټولنی د کار ناموپه تذکار یې گوتې بوری کړې او اوزدبیان یی و کړو. په دې منځکښی له حاضرینو څخه یوه دا پیشنهاد و کړو چه زمونږ په صوبه کښی خوابتدائی مکتبونه یعنی د پنځم صنفه پوری په پښتو جاری دی مگرپه ښارونو کښی لااوس هم اردونصاب ویل کیږی؛ زه داخواهش کوم که جرگه دافیصله وکړی چه دحکومت له خواابتدائی نصاب چور په پښتو شی ځکه چه مونږ پښتانه یواو زمونږ ژبه پښتوده ، اوهرقام په خپله ژبه ترقی کولی شی ، خلیق صاحب ددی تحریك تائید و کړو او بلاثر دیده پاس شو. په منځکښی یو څو نظمونه نورهم ولو ستل شو او نوبت ماته راورسید. ماروميی په دی خبره دخوشحالی اظهار و کړچه داروميی زل دی چه د خیبر نه ښکته او پورته پښتانه سره په یوه جرگه کښی کښینی او په مشترك ادبی محفل کښی دافکارو تبادله کوی پس له دې لنډ بیانه څخه ماپه خپل نظم شروع و کړه . دانظم مادخپل « مرغلرو امیل » څخه منتخب کړی ؤ . ددی نظم عنوان دی « آب حیات » اویو څو بیتونه ئی دادی :

سحرمی و کړلی پښتنی له هو ښیاره ځنې چه ؤم خفه د زمانې له کنرو باره ځنې
ماویلی چیرته دزوروالی علاج شته دی که نه ؟ ای خبردارہ د عالم دهر اسراره ځنې
دهویلی :هو، « آب حیات » ښه په کوشش کړه طلب چه ضعف بدل دی په قوت شی له یوواره ځنې
ماویل لارکښی د کلو کلو تیاره ده پرته دویل رڼایی کړه دخپل زړگی له ناره ځنې
ماویل له شمعه دزړه مړه وی نو بیاخه دی علاج؟ دویل ددی دارو غوښته شی له سحاره ځنې

ماویل غوتی دزړه زما به گونډی گل شی چیری؟ دویل هو، که شی خبر له خپله کاره ځنې
ماویل ای خضر صفته ! رهبری می و کړه ، «خضرخوته یی» راته ویی ویل له واړه ځنې

* * *

دنظم دلوستلو نه ځودقیقی پس چه موقع می ولیده پاڅیدم ما ویل : دایوه لویه جرگه اوښه موقع ده که اجازه وی زه به دپښتو ادب دترقی دپاره یوڅو یادداشتونه تقدیم کړم. حاضرینو په خوښی وویل ډیره ښه ده زمابیش نهاد داؤ :

(۱) دپښتو ادیبان باید یو لوی او قوی ادبی انجمن تاسیس کړی چه هلته ټول ادبی افکار متمرکز شی.

(۲) دا انجمن باید یوه خالصه ادبی رساله چه د سیاسی او حزبی افکار و څخه مبرا او معرا وی جاری کړی .

(۳) دپښتنو ادب العلوم دې جمع اوډدون کړی شی .

(٤) دپښتو مفصل تاریخ باید ولیکل شی . هغه تاریخونه چه تر اوسه لیکلی شوی دی مفصل ندی . او اغیارو دخپلو مقاصدو دپاره لیکلی دی .

(٥) دپښتو تولنی او ادبی تولی درسم خط دجزئی اختلافاتو درفع په باره دې غوروشی .

(٦) په هر کال کښی دې دپښتنو لویه ادبی جرگه دلته یا هلته تولنه کوی اوپه متحده پروگرام دی بحث کوی .

(۷) ادبی انتقاد ته دې توسعه او قوت ورکړی شی .

(۸) د معاصرینو بهترین آثار دې نشرشی .

دا پیش نهاد دهلالی او اثر صاحب له خوا تائید شو اووخت و تاکل شوچه دا پریل په

(٤) بد یه عجائب خانه کښی دپښتو په رسم خط تولنه او بحث کیږی .

٥ — دادبی تولی د فنر

صباته بینوا ، زه او د ویزی مامور صاحب محمد قیوم خان د «نصر» ددعوت په اثر پس له ماسپښینه په یو موتر کښی بر تا کال تهلاړو. بر تا کال دصد رنه پورته دخیبر خواته په خو میله کښی یو کلی دی دا کلی هم زمونږ د کلو په شان په یو چته کوټه او کور ونو مشتمل ؤ . مگر دغه کور چه زمونږ موترور نو وت ښه یو پوره عمارت یی

درلود . په چونه سپین ؤاو دبرق گرو پونه پکښې را زوړ ندوو . دلته څو کسو عصری ځوانانو اومؤقروسپین زیر ومونږ ته هر کلی اوپه خیر راغلیء وویل . مونږ هلته په پستو کو چونو چه په ښکلو قالینو باندی ایښی وو کښیناستو . دستی مونږ ته چای او کیک راوړی شو . مونږ چای څښلی ، خبرې مو کولې . زیاتی خبری دپښتو او پښتنو په باب وې پس له چایو « نصر صاحب » وویل راځیء چه خپل دفتر دروښیم . مونږ دادبی ټولی دفتر ته لاړ وهلته دپښتو ډیر کتابونه ، جرائید . دکابل سالنامی اودپښتو ټولنی آثار پراته وو دغه ځوانانو دپښتو دترقي اودپښتنو دبهبودیء ښه آرزو درلوده . محمد یونس خان خلیل چه نو جوان شاعر دی دمانه ډیرې متجسسانه اوعمیقی پوښتنی کولی . ما کوشش کاوه چه په دغه تنگ وخت کښی دده دگرانو پوښتنو اسانه جوابونه ووایم . څودقیقی وروسته مونږ رخصت واخیست اوبیرته راغلو.

٦ . خوشحال خان نړا

زما ملگری بینوا صاحب ډیر شوق درلود چه دخوشحال خان دا بدی خوب ځای و گوری مخکښی وخت مقررشوی ؤ ، په مقرره وخت زه « ډینز هوټل » ته چه بینوا هلته دیره نیولی وه راغلم . هلته خلیق ، سمندر خان بدر شوی ، قاضی احمد سعید اونصر صاحب موجود وو . مونږ ټول په موټر کښی کښیناستو اودنمر خاته پسم سرك مو موټر پریښود . دپیښور دښارنه ووتو . په دې تازه پسرلی کښی چه ځمکه شنه ، ونې بڼ او غنم سمسور وو . هرې خواته گلان او شگوفی معلومیدې ، هوا ډیره لطیفه اوخوشگواره وه . دې سیاحت زیاته خوشگواری درلوده مونږ متفرق بحثونه کول اوخندل به مو . چه نوښارته ورسیدو ، بینوا صاحب وویل زمونږ یو عکاس په کاردی چه راسره ولاړشی عکاس مو پیدا کړاودځانه سره مو کښیناوه . دنوښارنه لږ کوز سهیل خواته للمی ځمکی خړې خړې غونډیء ، اودپلو څوونی دی . هلته ځمکی په غنمو شنې ، غونډی په گلانو رنگینی اودپلو څوونې به تازه پاڼو راغلی وې . ځای په ځای هلکانو مالونه پوول اوفضا کامله ساکته وه . ځمونږ موټر په دې ناهمواره لیاره کښی ښکته پورته او اړخ په اړخ کیدور وان و . ما سمندر خان ته وویل : آه عجیب شاعرانه ځای دی ، چه ددغه پلو څو لاندې سړی ناست وای اویوازې بی ژړلی ! سمندر خان ته دې خبرې خوندور کړو . بینوا ویل : تاسو به نو ولی دژړا ځایونه لټویء

ولی خاندی نه ! ـ ما ویل : خند اد نورو په نصیب ده ! ـ دا خبره ښایسته واوو ښته راواووښته . په آخره کښی دمخامخ یو غره دامنی ته ورسیدو ، چه هلته نور دموتر لیاره نه وه . مونږ موتر موتروان ته پریښود . او دیو مال پوونکی هلک په رهبری کښی دپلو څو دونو په منځکښی په غنډ یو ختو او کوزید وچه څومویوه و ره هدیره ومیندله چه دپسرلی په ګلانو او دپلو څو په ونو مزینه وه ، زمونږ دغه بلد ملګری وویل هغه دی دخوشحال قبر ! داهغه ځای ؤ چه خوشحال خان دمغولو دعسکرو داسونو دپښود ګردنه لیری دخپل ابدی خوب دپاره خوښ کړی ؤ . ما دځانه سره په لیاره کښی دخوشحال دآرزو ګانو په یاد دومره ژړلی وو چه د لته نوره ژړا رانغله .

قبر څه ؤ ، یوه چوتره اوصفه وه ، شا و خوا ور نه دتعمیر تیږی ، پخی خښتی اومساله پرته وه . داهغه سرشته وه چه دنوښارادبی جرګی دخوشحال خان دمزاردجوړ ولو دپاره کړی وه خونیمکله پاته وه . ملګرواول خښتی راټولی کړی ، اوددعه صفی په منځ کښی ئې دقبرپه نمونه کښیښو دې بیا ما اوبینوا دقبر یوه ډبرینه شناخته چه هلته پرته وه ، راواخسته اودقبر سره مو ودر وله نور ټول ملګری په ګډه دقبلی په طرف ودریده دعائی وکړه اوبیا هغه د ګلانو دستی چه دغه د پښتو نخوا دشاعرانو ډلی په لاسو کښی له نو ښاره راوړی وی ، دهغه شخص مزار ته اهدا کړی شوی چه دری سوه کاله مخکښی ئې عملاً ثابته کړی وه چه !

د افغان په ننګ می وتړ له تو ره
ننګیا لی دزمانی خوشحال خټک یم

❀ ❀ ❀

دجهان ډیری خبرې ، له هر خوا توری لښکرې
زړه می نه خوزی له ځایه ، غر خو هسی وی کنه

۷ـ خوشحال خان کوړمه

چه دعا موو کړه ، له زیارته راوګرزیدو . په خبرو خبرو مشغول تیاد پسرلی دشنو ګلانو ، شنو غرنیو ونو او دغنمو په پټو کښی خپل موټر ته راورمیدو . ارا ده مو وکړه چه دهغه چاځای ته ولاړ شو چه په لیاره کښی ځمونږ استقبال ته ولاړو ، او د غرمی دډو ډی وعده ئې له مونږه آخستی وه چه دده سره به ئی خورو دده کور دا کوړه سرای په حدو دو کښی په «شیدو» نوماندی کلی کښی ؤ داشخص یو خوش قواره عصری زلمی اود خوشحال خان

نمسی ؤ چه اغلباً نوم ئی محمد نواز خان ؤ . ده، هلته زمو نږ رهبری یو ښکلی عمارت ته چه مخکښی ئی باغ ؤ و کړه . دننه مونږ په آرام چو کیو کښینا ستو . له هری خواخبری کیدی . صحبت دومره صمیمی اوبی آلایشه ؤ لکه دعمر ولید لی کتلی اشنا یان اوور ونه چه سره را غو نډ شوی وی . دلته مهمه مذا کره دخو شحال خـان دمـزا ر په تعمیـر وه چه بیڼوا صا حب منځ ته راوا چو له ا و وی و یل : «دخو شحال قبر دتو لو پښتنو او تولی پښتونخوا دافتخار او ویاړنی یاد گـار دی .

نو که تاسو اجازه کو ی پښتو تولنه به دده مزار تعمیر کـاندی ، په دی کښی هم تاسو اختیار لری،چه دا کـار چور مونږ ته راپریږدی او که تاسو هم را سره پکښی برخه آخلی ځمو نږ اوستا سو فرق نشته . مو نږهم ستاسو و ر ونه یو .» خلیق صاحب سمند رخـان سمندر اومحمد نواز خان په آخره کښی دافیصله و کړه چه دا خبره دخان بها در صا حب مخی ته یوسی،چه دخوشحال د کور نی، سپین زیری او مشر دی . مو نږ ډوډی وخوړه . ډیر سا عت مودسیدا نوا رالحق خان راتلو ته انتظـار ولیښ انوا ر الحق صاحب دا نوا رااللغات په نامه دپښتو یو قا موس لیکلو ته له ډیری مو دی څخه اقدام کړی دی او تر ډیره حده یې څه لیکلی هم دی .

داقاموس په محاورا تو، ضرب الامثا لو او په لغت اومحاوره دلو یو شعـراؤ د کـلام په استشهاد باندی مـنی دی . مونږ دغه و خت دابنا غلی مصنف ونه لیدځو ،بله مو قعه کښی چه دی پیښور ته راغی اوخپلی مـودی ورسره وی مونږدی اوده کار ولیدچه دتقدیر وړؤ .

درا رو انیدو په وخت کښی د کلی تولو وړ و غټو مو نږ ته «په مخه مو ښه شه» وویل مونږ ولاړو، اودنو ښارد سیند په غاړه دخان بها در صاحب کورته زمونږ مو ترو درید . دی پخپله نه ؤ. مونږ دعمارت په برنده او خلا ص غو لی کښی قدم و هلو ښکته دپښتو نخـوا دډیرو سیندونو مجموعی دنمر په طلائی وړانگو کښی سپین حلك واهه، اوپه پوره خامو شی اومتا نت یې دابا سیند خواته جریان درلود . دسیندنه هغه پلو شمـال غـاړی بـا ندی گـلی پر وت و ؟ او شا ته بی یوه په بلې پسې خړ ې غو ندی د ستر گو لا ندی راتـلی زمونږ عکاس ددی ځایونو عکسو نو اخستل چه په دی کښی خان بها در صاحب راغی او مونږ

هریوته یې ستړی مه‌شی اوهر کلی ووایه اوتا سف یی و کړ چه زه نه وم اوتاسو ماته‌انتظار کړیدی . مونږ دعمارت یوی‌ښایسته کوټی ته‌لا ړو هلته مو چای وڅښلی اومیوه موو خوړه دخوشحال خان دمزار جوړولو فیصله داسی شوۀ چه خان بها در صاحب وویل دلته ځمو نږ لویه کو رنۍ ده او هغوی دمزار دتعمیر څه تجا ویز کړی هم‌دی.

پدی لس ورځو کښی دا خلك دلته را تو لیږ ی زه به‌ستا سو دا خوا هش هغوی ته ووایم . اویقین لرم چه‌هغوی ټول به دافغا نستان دپښتون حکو مت ددې نیکی آرزوشکر یه ادا کړی اوتاسو ته به دما مورویزه‌په معر فت مفصل جواب در کړو : دی مؤ قر اوفصیح سپین ږیری چه پخپله شا عر هم دی به ښوا لفا ظو مکر ر آ ز مو نږ خا طر دا ر ی و کړ ه . بینوا صاحب له‌ده څخه خواهش و کړ چه که‌مهر بانی‌وی اجازه و کړی مونږ ستا سو یوفوتو آ خلو هغوی په خوښی و منله . تردی ورسته مو نږ د شهباز خان زیا ر ت ته لا ړو بیا مو رخصت واخست اوسم بیښور ته‌راغلو .

۸ . سمندر خان اوقاضی احمد سعید

مخکښی شپی ته مو نږ په صدر کښی دسمندر خان او قاضی احمد سعید کورته‌دعوت‌شوی‌وو خلیق صا حب هم مو نږ سره ملګر ی ؤ . ما ښام ددغو دوا ړو ښا غلو کورته لاړو . دوی‌په‌یو ښکلی کو ر کښی او سیدل مو نږ د ملا قات په کوټه کښی ددوی سره کښینا ستو .

سمندرخان سمندر مونږ ته دخپلو اشعارو دواوین راوړل :

هغه مونږ اړول رااړول اوپه‌خبر وبو خت وو . سمند ر خان د ٤٥ کا لونه او وښتی یوژوندی اوبا در ده‌شا عر دی . قا ضی ا حمد سعید د ۲۵ کا لو عصری تعلیمیا فته ځوان د ی دا دواړه ښا غلی پیښو ر په راډ یو کښې دپښتو په بر خه کښې مهم رول لو بوی . دایوه خبره ځما په‌خوا هیر ه شوی وه چه‌د عجائب خانی په‌مشا عره کښې سمندر خان ته‌دملك الشعراء لقب هم ور کړی شو . رښتیا خبره ده‌چه سمندر صاحب دپښتو ادب دپاره ډېر خدمت کړی‌دی اوناچاپ شوی زیات آثار ورسره دی . ماله ده‌څخه وغوښتل چه خپل کوم یو خورا ښه اثر چه‌ده ته ګر ان وی مونږ ته واوروی . په‌دی هم زیات بحث

وشو چاویل شاعر پخپله دخپلو اشعارو څخه انتخاب نشی کولی ، چاویل شاعر همیشه متردد وی چه دده کوم اثر دجامعی خوښیږی . خواخرده خپل یو دوه رومانتیکی نظمو نه واو رول زما دده سره په تمثیل تام او تمثیل ناقص او تطبیقی تخیل باندی ادبی بحث جاری شو .

قاضی صاحب مداخله کوله او ښه ښه نکات منځ ته راتله . بیا صاحب دبحث دطوالت نه په تنګ شو او غوښته یی چه زردا بحث تمام شی خلیق صاحب به لکه چه دده عادت دی یوه یوه په مزه مزه خبره کوله او دجدت نه به ئی فکاهی سطحی ته راښکلو . په آخره کښی زمونږ بحث له ادبیاتو څخه اجتماعیاتو او دښځی مسئلی ته را منتقل شو :

په پښتنو کښی یو عجیب عادت موجود دی دوی عادتاً که دهری طبقی خلك وی ، ټول حیاتی مسائل : ادبی وی ، که اجتماعی وی ، او تردی که سیاسی هم وی دمذهب خواته راکاږی اخیراً دښځی اوستر په موضوع قاضی احمد سعید په نیم مذهبی او نیم فلسفی رنګ کښی یوه ښه فیصله وکړه دهغی حاصل دادی چه «ښځه چونکه دحساساتو مظهر او دعواطفو جلبو ونکی ده ، که په غیرعادی صورت جامعی ته را ووزی ، او په محرکانه ډول دنارینه احساسات جلب کړی ، نو یو خو به ددی تحریك په واسطه زیاته انرژی په مصرف ورسیږی او بله داچه فسادات او تصادمو نه به تری پیدا شی نو مدعا داده چه دادی را وزی خو په معمولی اوغیر اروپائی تزئیناتو او بی ستری سره» (نوربیا)

یو نورستانی سپین زیری سری پەزدو نورستانی کالیو کی

دوی صافی پښتنی نجونی

دپښتو ملي او تعليمي اشعار

(٤)

ښاغلي فاضل جلالي:

٧ ـ ارستو بور لسك ليا دپښتنو ځنی «هزلی جدی اشعار» :

داډول اشعار چه ارسطو ئی په تعليمي ادب کښی داخل بولی هغه انتباهي لنډی او بدلی دی چه په لمړی سر کی استهزا او مسخره تري څر ګند ېږی لا کن په معنا کښی يو ا ځی استهزا ندی بلکه دمسخرو په لباس کښی پند او نصيحت بيانوی، د پښتو په ادب کښی لږ او ډېر داډول اشعار شته دی که څه هم پښتانه يو جدی تېر دی او هر ځای خپل مطلب په صراحت دلهجی ادا کوی بياهم کله کله په ځنو ځايونو کښی چه لازم و ګڼل شی پښتون شاعر هم خپله تنقيدی استهزا دمسخرو په جامو کښی ونغاړی تر څو چه و ګړی سم دستی دشاعر په مطلب ونه پوهېږی او په غير مستقيم ډول وروسته پوه شی دا راز بدلي ډېر ځله ښکاره مخاطب نلری بلکه ځنی عادات، ناوړه دودونه ئی هدف وی او شاعر هغه عادات دمسخرو په رنګ دتو کو ټکالو په ترڅ کښی وستائی، اروېدونکی په ښکاره اټکل وهنی چه ګوندی شاعر ددغو دودونو په خوږه وينا سره ستاينه کاندی او بدی ئی نه وائی خو چه لږ ورته ځير شول بيانو پوهېږی څه وائی او نتيجه څه ده ؟ په تېر بحث کښی مونږ ودغو اشعارو ته اشاره کړی وه لا کن داډول اشعار دوې څانګې لری يوه اپو بيك ليا (جدی هزلی) بدلی چه پظاهره رښتيا نی اشعار او په معنا ئی محض مجلس آرائی تري مطلب وی نور کوم ادبی مفهوم نه تري څر ګند ېږی لکه مونږ ئې نمونی يخوا تردی و ليکلی او دوهمه ټوټه ئی دارسطو بور لسك ليا (هزلی جدی) اشعار دی چه دا پو بيك با لعکس ګڼل کېږی يعنی لمړی پلا مسخری

بر ښښی مگر په حقیقت کی یوه پټه تنقیدی اوتا کلی، جنبه هم اری چه واړه پند او نصیحت تري څرگندېږی لکه دغه شعر :

په نړی کی بل یو کوم تر ما بهتر دی — یومی سور پټکی ترغاړه بل په سر دی
ښه ډ نډی وهم وتلی قسم خو ر یم — گمان مکړه ورور د گټی بی خبر دی
که پردی خلك د کام دپاره کار کړی — ما وهلی خپل تر بره لره سنگر دی
که نور تل په شنو مو تر و کښ سپر ېږی — زماموشه هم خپل څېښتن ته تور موتر دی
که غالی په کوتو او بی زه ئی څه کړم — زما پوزی «بوریا» مه بوله ژیړ تغر دی
زوی غوبه کړمه پخپله پوخ خر کا ریم — ما زد کړی له ا گړه دا هنر دی
که څوك سم په غېږ راځی ورته ولا ړیم — ته به و گوری چه کوم یو زور ور دی
که څوك جنگ کړی په سوتو، په متارانو — زما قسم دی ورور دی یو په سلوبر دی
خلك وا ئی په د نیا کی نندا ر ي دی — ماته خپل چر گ سازول جنگ له اختر دی
که بل ناست دریل په ملونه کپطانی کا — ما نیو لی تر سر وا ښی خپل کچر دی
په نړی کی ار وم جنگ په طیا رو شی — نو کدا وی دبل کانهی زما په سر دی

ځنی هزلی جدی لنډی :

خلك د بل و طن خوا ری کا — ما په دوه سا ر یو کښ لېدلی کا روا نو نه
سربه تر خپله کو نډه جار کم — پټی به گرو کړم مر کی پر کو مه
ځوا نا نو زور په بز گری کړی — سپینی پا یڅی در پو څلی ړنگو ینه
امیر ه نو ر نو کر د ډ ېر شه — ماته رخصت را کړه چه خپل انگړته ځمه
سخی می نه بولی، نو څه یم — چه په پردی واده دځان سدری څېر مه
که می څه نز د، غم می نشته — زوی به خر کار کړم چه ډ نډی را ته وهینه
لور می زړه کړه ور می نکړه — ځکه څوك زما په زړه و لو ر نه را کو ینه
اخو نده ز ما ور غو می مخو ر ه — څوك ستا په کو ډ و ماته لو ر نه را کو ینه
زه تر ا گړ لا گټند وی یم — چه پو ره وړی په در وا غو تیر و مه
که له خوا ری ژ ر نده څټمه — له خیا ل مز دو ژ رند کړی ته پر ېږ د مه
اصیل زاده یم مز دو ر نه یم — بز گر ی وړنده کو دی به تولو مه

محمد هوتك روايت كا چه محمد طاهر ژمر يانۍ يوهزلي جدي شاعر دي يوه ورځ ئي يويار ودكان ته راغي چه نوم ئي دي محمد عمرخان په قوم لوڼ او په مقتضا دخپلي طريقي طبعي سره ئي وويل : لس كاله دمحمد طاهر سره په مجلس او وينا يم خو هيڅ اثر دمجلس نه لېدل كېږي او نه د(الصحبته مو ثر) مصداق ښكاره كېږ ي په سبيل د هزل ئي دا قطعه په مجلس كي وويله :

وا يي دا چه صحبت كا ندي يـو لـه بـلـه ډ ېـر ا ثـر
پـه كـلـو د مـصـا حـب شـو م سـتـا صـحبت نـكړ مه خر

محمد طاهر چه طبع ظرا فت پسنده لري او هسي نكا ت ښه ادا كا، هسي قطعه ئي په ځواب انشا كا :

صحبت ډېر ا ثـر كـا گـو ر ه مـنـكـر نـشـي د ا ثـر
تـه لـه مـخـه هـغـه شـي و ي ا و س ا نـسـان شو لي بـشر

دغه بري لنډي او عروضي اشعار دپښتو په ادب كښي پښكاره ډول هزل او ظرافت معلو مېږي لاكن په معنا كي تنقيدي او استهزائي جنبي لر ي نو كه څه هم ارو ېدونكي لمړي پلا په خندا را ولي مگر د ځنو خو يونو اودودونو تمسخرا واستهزا ترې څر گند ېږي داشان اشعا ر له كميدي اشعارو څخه (چه وروسته به راشي) دومره تو پير لري چه دلته داستهزا مو خه (هدف) (مفهو د في الذهن) يعني ذهني تا كلي او مشخص وي مگر په كميدي كښي دشعر مفهوم خورا عام او تنقيدي غولي ئـي هم پراخ او تربور لسك ار ت وي بل دا چه شاعر كولاي شي په (هزلي جدي) اشعار و كښي داستهزاوړ خو يونه و ځانته نسبت كړي او د نور و عيوب پدغه بهانه چه و خپل ځانته وايم څر گـندو ل غواړي مگر په كميدي اشعارو كښي يو سړي (شاعر يا ليكوال) يواځي مثال او ممثل نشي كېد لاي موضوع به هرو مرو خارجي وي .

تريا دار سطو « Tragedy » هغه ډول اشعار يا ادبي ټوټي دي چه و ير او مصيبت په ادبي ژبه څر گندول غواړي، يوه دظلم او بد بختي منظره رسم كول ، يوه وېرجنه فاجه ليكل ، يوه اغېزه نا كه واقعه چه په و گړو تېزي او ژوري اغېزي كو لاي شي بيانول ليادهغي تصوير څر گندول تريا (فاجعه) بلله كېږي ، مصري پوهان تريا (ترژدي)(فاجعه) او كميدي مضامين چه وروسته به راشي (مضحكه) ليكي .

دا دول اشعار د پښتو په ادب کې خورا لوړه برخه لري او پښتنو شاعرانو په لیکلو د (ترژدي ګانو) کښې خورا شاعرانه کمال ښکاره کړی او هره توته د د اشعارو پاره د بدونکو څرګندې اغېزې کولای شي د مثال په ډول د دې نمونې د ترژدي اشعار لاندې ولیکو : دوی د ملي ادب او یوه د عروضي شعر، دا دی د مومن خان او شیرینو د (فاجعې) لنډیځ لمړی نمونه و ګورئ :

مومن خان : مومن خان د ملوك الطوایفي د زمانو یو پښتون شهزاده وی ، شرینو چه یوه ښکلې پښتنه پیغله وه او د پلارئي په خپل ژوند و مومن خان ته ور کړه د مومن نجل او مینه ده ، دوی دواړه له کوچنیتوب څخه یو پر بل ګران او ښه ځوانې ، ښکلې توب ، غیرت پر دوی تمام ؤ ، د کام مشر توب د مومن خان پلار کاؤ ، هغه مهال چه د مومن خان پلار مړشو ، دی یو خام هلك پاته شو ، شرینو اوه و ونه در لود چه مشر ور ورئي ظفر خان نومیدی ، دی ظفر خان و مومن خان د هلکنی ته وکا ته او د کام پرخانئي کښېنا ست مومن داخبره و نه منله او خانئي د خپل ځان میرات ګڼله له ظفر خان سره په ږاخته شو ، ترڅو چه نیم کام پر مومن خان و درېده او نیمائي نور کام وظفر خان ته تمر وواهه دوی په نزاع اخته شول ، پدی ترڅ کښې مومن خان خپله مینه شرینو و غوښتله چه واده ئي کړی ، ظفرخان د خپل پلار په زمنه ناکاره شو او خپله خور ئي هغه مهال و مومن ته ور واده نکړه ، هر کله دا دوم تجاوز د مومن پر حقو قو باندې د ظفر له خوا وشو ، مومن چه یکه هم ؤ د خپل کورنی بدی ئي خوښه نکړ نود کام خانئي هم پر ښو داله ، وهند ته ولاړ هوری ، دولس کاله پردیس او مسافر پاته شو ، شرینو داته دوروتو په کور د مومن په نام شپې او ورځې تېرولې او لکه یوه باناموسه پښتنه له خپله نامتو مین سره ، چه مومن خان ؤ خورا وفاداره وه مومن خان په هند کې لکه چه دده په نقل کښې راغلی خورا د مېړانې کارونه ښې څرګندې کړې او ظفر خان هم وړی خبرې ته حاضر ؤ چه مومن خان بیا ر ته وطن ته راولی ، پخلائي کړی او بیا خپله خوږ شرینو ور واده کړی او خانئي هم ور پر پېژدی پدغه ترڅ کښې د خدای کارونه دې ، یوه دروغجن فسادي سوداګر سړی چه د شرینو هوائي وهله و هند ته ولاړ او مومن خان ته ئي و وی نه دلته کړې او نن پاسبا به واړ وی چه ظفر خان شرینو وبل ته ور کړه داهم راضی دی ، که نه منی یو ځل ولاړ سه او ګوره چه زما خبره رښتیاده که نه ؟

مومن خان چه دولس کاله دشرینو بیلتون گاللی اوددی په هوا ژوندې ؤ دی آو ازی هك حیران کی نو دیوی بیځایه تلو سی په سبب نابو بره له هند څخه د وطن په خوا را رهی شو وخپل ځای ته راغی شپه ده خپل آس ئی چیرته پر ېښو داود آز مو یښت په اڅه دشرینود دورونو وانګړته چه دا هم هلته وه ورغی ،، ګوری شومه قراره ده دشرینو کټ په میانځ کښی پروت دی اواوه ورونه ئی چار چاپیر په کټونو باندی مسلح پراته دی اوپه خو اژه خوب ویده دی ، مومن خان نابو بره دشرینو و کټ ته ورغی او لاس ئی وروړ ، شرینو چه یوه پاکه سپیڅلی پښتنه وه او کله دنامحرم لاس نه ؤ پر نښتی له خوبه را وغور زیده او ناڅا به ئی زغ کړ چه غل دی ، ورونو ئی چړی راواخستی اوپر مو من ئی ګزارونه و کړه ، مومن سخته ټپی شو اوپه وینو کی لبز نده پخاورو پریوت ، چه ډیوه بله شوه ګوری مو من خان دی اودا شانی ټپو نه ئی اخستی چه دژوند هیله ورته ندر پاته سائی دمر په سلګو روانه ده ، هر کله چه ظفر دشرینو مشر ورور کاری ټپ پر مومن کړی وه ، اودده پر دیسی ښکلی ځوانی ئی ومخی ته ودریده اوسم دستی ئی ځان هم پر هغه چاړه وواژه چه مومن ئی پر و هلی اوداسی وویل ، مومن زما له ظلم څخه ورك شو او ماغوښتل چه خپل خطا تلافی کړم مګر تقدیر نه و اوبیادی زما له لاسه مړشو نوزهم نور ژوندنه غواړم اوخو زیم چه تر مو من بخوا زما جنا زه و قبر ته وسپا ری ، شرینو چه له یو ی خوا د خپل ګر ان مین په وینو اړلی نازك بدن وینی او دمر ګ په سلګیو روان دی ، اوله بلې خوا ئې مشر رورو وینو رنګ مړ پروت دنیا پر تیاره شواو پر مورئی ږ و کی :

موری داسر پنی می را که دمومن جان ترسره ورل لا ندی به ځمه

ددغې صحنې دغم سند رې داشان له اورډ کی دی چه سړی ئې واورېد و ته نشی حاضر ېدلای په تېرو برخو که مایو څو سند رې ددغی ترژدی لیکلی دلته ځای نه وینم.

وائی چه وروسته دمومن خان له مر ګه شرینو بل مېړه و نه کی او د پېغلاو په جامو کی دمومن خان په مزار ئې ژوندواخرته ورساوه ، وائی چه شرینو به دمومن خان په مزار ناسته او ونجنو ته به ئې ویل: هر کله چه دځوانمر ګ ټولی آرزو ګانې او د ځوانی هیلی په یوه ناڅا په پېښه په خاورو سره ولړلی شوی نو زه شرینو ، بله آرزو نلرم خوچه د ده پر څنګ خاورې شوم تر څو چه دوفاداری حق پر ځای سی و ګوری دمومن دخپلی وسوسی او تلوسی په اثر ډك له ارمانه و خاورو ته ولاړ او ځوانی مر ګ شو لا کن سخ د شرینو پحال

چه دېده اودانسته لکه پټن د عشق پر ډېوه کړېد ه اودپر واز وزر ئې مین او مشر و رور دواړه خاورې، ایری شول، اوترهغه مهال پوری چه داژیړوتی گـل (شر ینو) د مر گی په سوران رژېد ی اوپانی پانی کی د ی میاشتې او کلونه تېرشول ـ هو کی دا دواړه ځلاند ستورې دعشق له فضا څخه افول و کاوه یاد واړ ه د گـلو غوټی په‌خاطر غوړ ېدلو مر گې په‌خزان بایلو دمگر یورون آسمان، یوشین زرغون بڼ ددوی دعفت اوپښتنی روحیاتو لاتراوسه دپښتنو په نړی کښې څر گـند ښکاری اوپه رحمت سره یادیږی هو کی: ترڅوچه پښتون ژوندی وی ترڅو چه د پښتون خوا دغروپه لمنو کی ښایسته گـلان غوړیږی هو کی ترهغه مهاله چه‌دپښتو نخوا ارشو گـانې دسحر په‌لمرڅرك اودماښام په‌شفق کښېده کیږی پښتانه زلمیانو اوپښتنې پېغلې به‌پر مومن اوشر ینورحمت وائی اوداخونړی تراژدی به‌ددوی نه‌هېروی .

دوهمه ملی ترژوی:زه (پخپله لیکونکی ددغی ډرامی) دځان دعسکری دورې د تکمیل په‌موده کی داستقلال په‌لوبه جـگړه کی دیوه‌عسکر په‌دود شامل وم زه د (۱۹) کـلو په‌عمردمرحوم ملی (مارشال محمدنادرخان)دهغه‌وخت دسپه سالار تر کماندلاندی له‌ملی لښکرو سره وتل ته ولاړم اودقدم په‌هوائی حمله کښې په‌چپ لینگی تپی‌هم شوم مگر بابېزه اوپرمخ ولاړو دجگړی‌په مخاذ کښې زه دیوه سر حو اله د ار په حیث له لو یه مجا هد ه حضر ت فضل محمد مجددی سره وتا کـل‌شوم‌اوپه شپه او روځ‌حاضروم، حضرت نور المشا یخ‌صا حب ددی خبرې شاهدی ـ هر کـله چه‌دتل‌ښار ملی مجاهدینو فتح کړ، اوعسکری‌چونی دهغه ځای دلاینقطع اوردافغانی توپخانی په‌سبب اورواخیست، او(۸اپن) پښتنې توپونه‌د تل له لوړو ، ددښمن په‌استحکـاماتو گولې (روڼ‌اوبم) اورولې، غلیم دتیښتی په‌حال کی وه چه نا څاپه له کـابله دمتار کی فرمان راغی ـ لدې کبله تو له ملی ا و لښکری قوه دلو ی مـا رشال محمدنادرخان دهغه‌وخت(سپه‌لاسارغازی) (اعلیحضرت‌شهید) په‌امروخوست‌ته‌بېر ته‌را غبرك‌شو، اوله خوست څخه زموږ مفرزه له (رئیس المجا هدین) حضرت فضل محمد مجد د ی سره وپټان‌ته ولاړه او په‌څپری کښې وبل‌امر ته کـتونـکی میشته شوه ، په دی ترځ کښی چه یوله شجاعتمندانه مگر نا عاقبت اندیشانه‌عا داتودخپل‌ملی لښکر وماته څر گـندشو هغه دا وو :

ملی لښکر دپښتنوپه محاربه کی هرځای چه وغواړی هغه نسی که څه هم له خورا لوئی تعبیی سره مخامخ شی اوتلفات ور کی اوډېر تاوان و گـالی خونیول دهغه ځای و دو ی تـه

حتمی بلل کیږی مګر له خورا فاحشو خطا ګانو څخه دغه وی چه دوی ارز ښت او قیمت دخپلی فتحی په نظر کښی نه نسی اوهغه ځای چه یوځل ئی دیوه ماهره اردو په څیر نیولی وی تر ډېرونه ټینګوی او کیږی چه بیرته ئی په څوورځو کښی خوشی کاندی او زیار ئی عبث ولاړ شی .

داپښتانه چه زه ئی دیوه ترژدی درامی دتمهید په توګه ځنی حالات ایکم د سلیمان دغرو په سمو ، لمنو کښی هستو ګنه لری ، له غیر ته ډك ، پاك سپڅلی دپخوانو پښتنو نمونه ګڼل کیږی هر کار ئی په پښتو اوهره و ینائی دپښتنو ده ، او س پدی خبره باندی هم باید پوه شو چه دسلیمان غردری څانګی لری یوه ئی پخپله سپین غر ، دتیراغرونه اوبله ئی اصلی سلیمان غردی چه له سپینه غره دځاځو له لیونو څخه جلا کیږی : دغه سلسله ها خوا ، دا خوا په مینځ کښی دپاکتیا دولایت (سمت جنوبی) چار چار پیر را څرخی او په دهشتنا کو اعوجاجو (کجلېڅو) باندی وېشل کیږی ، هاخوائی دڅمکنو پېچی ، دمنګلو غرونه ، دمقبلو ځاځی میدان ، علی شیر . توروابو قدم ، ګربز ، نریځ . اورژل ، دځدرانو ، ارګون ، برمل وزیرو ، مسعود وغرونه تشکیلوی اود کانی ګرام په استقامت (دپیر روښان مینه) و مشهو (کشی غره) ته وروصل کیږی دابله څانګه ئی دپیو اړله خاښی مخ پرلمر و لید یځ لټیدلی دځاځو علاقه له مشرقی څخه جلا کوی ، بیانو دشتر ګردن له غاښی ، دآزری له څکو څخه خپل استقامت دجنوب وډډی ته را کښه وی ، خوښی ، آب چکان ، مچلغو ، کوتل تیره ، دولت خان ، مورڅله ، زرغون ښار ، تروازی خوا پوری پردغه څانګه اړه لری ، دخرو ارغزونه دغزنی کاویان . دسجاوڼ څکی ، زنه خان هم لدغی سلسلی څخه دی .

دریمه څانګه هغه داصلی سلیمان (کشی غر) دی چه جنوبی برخه دپاکتیا د ولایت ئی نیولی او یوه شاخله ئی دژوپ ، شال او کوژك په سلسله پوری تړلی ده ـ هغه څانګه چه د جنوبی ولایت په مینځ کښی تیرېږی نژدی له ۴۰ تر ۵۰ کیلو متره عرض نه مو تر ۴۰۰ کیلو متره اوږدوالی پوری دهر ډول ځنګلو نومښت دی دلته ځنغوزی ، نښتر ، څېړی ، ښونه ، ارچه اونوری ونی شنی شوی ، اودو دانی لرګی ترې حاصلیدای شی .

دغه سلسله دسلیمان دغرو هاخوا اوداخوا شنی دری لری ، ودواړو خوا وته ئی داصیلو ، تور یالو پښتنو دهستو ګنی ځایونه پراته اوودان دی ، دګومل ، شمل او کرمی ، ژوب اونوری رودخانی په څوڅو نقطو کښی دغه سلسله سره جلا کوی اودا ځانګه دننی په جنوبی ولایت کی هسکه شوی اودسند (اټك) وحوضی ته دغنډیو اوفلاتو په دود ور شیوه کېږی .

له سپیڅلو عادانو، اخلاقو دد غو پښتنو څخه چه پد غو لمنو کښی هستو ګنه لری، ننګ نیاز منو خوارانو حمایت، ساننه، مرسته کول، میلمه نمنځل، سیمه ساتل، لمونځ اودس، روژه نیول دوستی پالل، مینه. مینی ته پدرنه سترګه کتل، بلل کیږی د ضعفاؤ حمایت تردی اندازی پردوی کښ ټینګ دی چه حتی دپلار، ور ور، زوی، کام خپل او لس په مقابل کی هم دوی پرهغه چاباندی چه ودوی ته پناه وروړی ځان جاروی، دوی وائی مږ پردادو غله څو پلاله حکومته سره وښتو او هغه مر دخپل ځان په خرابی خلاص کی امیندخواره نیو (یعنی خپله ننګه په ډیر دولت نه خرڅو ؤ) په دوی کی عادت دی څوك چه چاته ننګه وروړی نو ورځی یو لیادوه پسونه د کلی په هدیره کښ ذبح اوا وربل کا، مشران د کلی نه کام ورشی او هغه سړی چه ننګه ئی راوړی راولی دی پښتی څه غواړی او د چاله خوا پر تاتیری شوی. چه احوال ورڅر ګندشی نو وهغه کس ته پخپل کلی کی ځای ور کی بیا تر هغه مهال پوری چه هغه ئی په خپل حق نوی رسولی مصارف ئی هم ور کوی او دهغه سړی هیله که په هر قیمت لاسته راوستله کیږی دوی صرفه نه کاندی هر مهال په دی لاره کښ تاوانونه ګالی خود ضعیف حمایت نه پریږدی له دغو مرسته څخه چه دوی ئی کوی دالاندی «عجبه ترژدی» لیا (فاجعه) دیادو لوور بلله کیږی او هغه داده:

د زرګل او مکی کیسه

زرګل دیوه غښتلی پښتانه نوم دی چه دیوه ښاغلی تبر مشر او دیوې تور یالی کور نی غړی وی، داسړی سربیره پر خپل قومی بیټ دپنځو غښتلو زامنو پلاردی یوه ښایسته غښتلی پیاوړی لور هم لری چه مکی نومیږی، مکی سره درلودلو دښایست او جمال تور یالی پښتنه او د ننګ میرمن یوه مردانه یوه پوه ښه میړه مخه نونس کلنی پیغله ده یو وخت له وختو کال وچ راغی، ژمی شو، زرګل چه یو څلویست کلنی ځوان دی دی هم له خپلی ډلی سره د کال تیرولو او غریبی کولو په خیال وهند ته رهی شو او د کن ته ور کښته شو، پښتانه عادت لری چه کله کله ژمی و کښته ملکو ته ځی او هلته په بزاری، خټګری، چټه (پیسی په ګټه ور کول) او نورو نورو کارونو باندی مشغول شی، په څومیاشتو کښ خورا ډیری روپی و ګټی، خو چه پسرلی سی دځان او کهاله پوښاك او د کور ضروریات رانیسی او بیانو له ښی ګټی سره د کور پخوارا رهی شی او پرډله بیرتد راشی زرګل چه د کام مشر او نوی وبل هوادته ور کښته شوی نو د کور او کلی زلمیانو په ده کارنه کاوه بلکه هوری هم دخپلی ډلی مشر ګڼل کیدو

اوونور ته بئی کارنیو، هر کله چه یوذ کی اوپوه لوستی سړی و، په دوو در و میا شتو کښ ژبه زده کړه اوپه هغه ضلعه کی چه دوی هستو گنه درلوده په‌متانت، ښه‌ځوانی او بهادری سره مشهور شو، زرگل یوښکلی قوی‌هیکله ځوان دی‌چه هرڅوك ئی‌ووینی وائی چه‌داسړی، لکه چه‌پوطن کښ دبرم‌خاوندا ودیوه‌غښتلی تبرمشردی‌خود زمانی مجبوریتونودی‌ته اړ کړی چه‌په غریبی پسی دکن ته‌راشی، واقعه هم دغسی وه دخدای تقدیرونه دی دهغه ځای یو سوداگرچه ددریاب په‌سفر تللی وه احوال ئی‌راغی چه‌له‌ماله سره دبیړی‌دو بیدو په سبب په دریاب کښی غرق‌شو، داسوداگرهوری کوراور، ځای ځایگر لری مگر زو یی نشته او یو ورور یی و،چه هغه هم لده‌سره تللی و،، ددغه غرق شوی سوداگر یوه خو را پوه ښا یسته ماندینه په کور کی پاته‌ده اوپه هغه کلی کښ اوسی چه زرگل‌هوری دیره دی، څو ورځی دسوداگر دمرگ ویر او ماتم و، خیرخیرات پسی وسو فاتحه ئی دکلی والو اوماندینی لخوا واخسته شوه زرگل هم‌چه هلته دی دمړه له خپلوانو، ماندینی سره په‌غم کښ شریك سواوښه همدردی یی ورسره وکړه، پدغه کښته پورته‌ناسته ولاړه کی دکورله خاوندی سره چه دهغه سوداگر ماندینه ده بلداوپیژندوی شو، ښځی هم (چه‌یوه پوه، لوستی ارتینه ده) دزرگل پښتنی خویونه، خواخوازی، ښه ځوانی خورا پسند کړه اوعلاقه ئی ورسره ټینگه شوه، تردی اندازی پوری چه ښځی یو کافی مبلغ له خپله مال څخه وده ته‌ورو باښو او په پای کی لده څخه خواهښته وکی چه، که‌چیری زرگل دغه‌ښځه نکاح کړی نودا به دده هرشرط ومنی، لمړی‌پلا زرگل داخبره رد کړه اوورته وویل چه‌زما پښتنو اله دغه کارنشی منلای، بل داچه دی په‌وطن کښی دوې ماندنی او ځوانان زامن اولونی هم لری، څو ورځی نوری تیری شوی ښځی پیالده وغوښتل چه کدا په نکاح قبوله کړی‌خپل‌میراث به‌هم وده‌ته ورکی داپلا بیا (که‌څه‌هم ښځه‌دمال اوجمال خاونده‌وه) مگر زرگل ودی ته‌منفی ځواب ورکی‌خوله خپلو ملگرو وځنی دوستانو سره‌ئی مصلحت وکی هغو ټولو،صلا ورکړه سره‌لدی هم زرگل دښځی‌وویل چه اوښځی ! زه‌دوې ماندینی لرم اومسا فرسړی یم‌دلته له خواری څخه دڅو میاشتو په‌مخه راغلی یم ځم‌بیرته خپل کور،وطن ته، زمااوستاد ازدواج څه‌نسبت ؟ خوښځی شرعی‌خبر به ورو راندی کوه ادورته وویل‌چه‌زه تا نه راگرزوم بلکه خپل حق‌اخلم اولتا سره ځم په‌اسلام کښ څلور ماندینی هم‌روادی ته خودوې لری اوله ماسره به‌دری‌شی .

ادبیات

سپوږمۍ

ښاغلی بهائی جان له غزنی څخه :

د فلک پر دسترخان ټکۍ پرته وه — چه را پورته شوم له خو به نیمی نه وه
لمر د غره و شاته پټ ځما یقین شو — چه په تیره په غلا کړ په نیمه شپه وه

دپسرلی لیونتوب

پسرلی چه لیونی شی نه پوهیږی — په یوه لحظه خندا هم ژړا کاندی
له ژړا سره یه ګل په شپه کښې ژاړی — له خندا سرې غنچه دورځی خاندی

څڅوا کی

نیمه شپه ترغوژ پزوره ژړا راغله — ځما ګمان سو چه دا کوردی دزوی مړیو
د کمره له سترګو اوښکی څه څیدلی — شرشری دویر وینا کړی دورور مړیو

❀ ❀ ❀

افکار سیال

ښاغلی سیال :

عالم خیال کښې بصیرت نه لوړ فکرونه کوم — د ځان جهان د ودانۍ ښه تدبیرونه کوم
په اطمینان سره تعمیر د دنیا جوړ کړم دانسان دپاره — فاعل مختار یم عجیبه ښه ښه کارونه کوم

دزړه راز

همدر دی نشته ځکه حال د زړه ویلی نشم — نشته همر از ځکه داراز ورته ښودلی نشم
ورپوری خاندی که دزړه دردونه وژاړی څوك — ځکه ددې وېری په وازه خو له ژړلی نشم

ملی یقاء

د کم بو قام چه پوخ ملی مرکزیت نوی — وایه داچه د هغو موجودیت نوی
د غلامۍ په مذ کښی به ټکری وهی — دبدبختی نه چه دچا خپل حکومت نوی

ځان ځانی

ځان ځانی لویه بلا ده — سرا سر خوشی سودا ده
شخصیت د ځان پالنه — اجتماع لره وبا ده

حرص

دملك گیرۍ دخیاله دا کینی بغضونه جوړ شو — حرص هوس منحوس جذبی ځینې جنگونه جوړ شو
زور او رندی ماړه شوی د انسان په وینو — انسانیت تخریب له وس ایتم بمونه جوړ شو

انصاف

چه وگړی په وحدت کړی خدمتونه — آبادې کی خو د هغه مملکتونه
د هغه ملت به لویه بدبختی وی — چه افرادې کړی د ځان ځانی فکرونه

دمظلوم آه

دمظلومانو اسویلونه دوزخونه جوړ شو — د غریب وښکونه دالوی لوی دریابونه جوړ شو
چه لطف اخلی جابران دخپل ستمه ځینی — خود په دنیا کښی خونړی مهیب جنگونه جوړ شو

داقتدار سره ظلم

کله وگورم چه ظلم چانه کېږی — لعنت پری وایم چه دا څه کانه کېږی
بیا چه ځه وسه مینده کړم مقتدر شم — دا دشرم کار پخپله مانه کېږی

پښتونه

ښاغلی گل شاه صافی :

ترڅو به پروت ئې په غفلت کښی خوار وزار پښتونه — یم نا قرار پښتونه
د ستا غمونه پریواته پر ما انبار پښتونه — یم نا قرار پښتونه

ستا بی‌علمی له لاسه ، دنا پوهی لـه لاسه بی کمالی له لاسه ، بی تهذیبی له لاسه
دزړه وینـی تویه وم لږ ښه هوښیار پښتونه یم ناقرار پښتونه

❀ ❀ ❀

وحدت ملی که دځان ، ځان دوطن کا قربان گوره مخلوق د جهان په اتفاق شوه شادمان
پـه ټټو تـر سو کړی رفتار پښتونه یم ناقرار پښتونه

❀ ❀ ❀

دنیا هوا کی گرځی ، پروت په ذلت کښی ولی ستر گی دپورته کارته پرت په وخت کی ولی
په علم اوفن کړه ته گل وطن گلعذار پښتونه یم ناقرار پښتونه

❀ ❀ ❀

پټ په سینه کښی زخمی غم دوطن کښی ټپی وحشت دستا کړم ستی پاڅه نور مکړه سستی
غرق شوی غفلت کښې ښه غیرت سره بیدار پښتونه یم ناقرار پښتونه

❀ ❀ ❀

وی دایشیا د سرتاج لور دهـر چا په رواج نن ولی شوی ته محتاج بی‌علم ناست لاعلاج
خاورو کښی پروخت ئې ترسو کړم تاله کو کار پښتونه یم ناقرار پښتونه

❀ ❀ ❀

علم او کمال سره ته ورك جهالت وکا ، ته هنر عرفان راوړه ته ورك کسالت وکا ، ته
افغانستان ئې گلستان زلمیان په زیار پښتونه یم ناقرار پښتونه

دریالیا اشتباه ځواب

ښاغلی فاضل پښتون بینوا صاحب !

ما د کابل په ۲۱۹ گڼه کښې یو ثقه تتبع ولید له چه زمریالی صاحب زما د مقالی ویوه بیت ته گوته نیولی او گړابی ، « دا بیت د رحمان ندی بلکه دده د یوه بی نامه آشنا دی ، او بیائی وخپل آشناته د متقلب نسبت کړی او وائی دا بیت زما آشنا د رحمان په نامه جوړ کړی ځکه د رحمان نوم ئی په سر کی راغلی او ده هم د رحمان په نامه لیکلی » دادی د زمریالی صاحب ثقه تتبع او منطقی شکل ، چه له ورا څرگند دی .

خوزه به دده ځواب ولیکم منصف پښتانه دی تمیز پرو کړی : زما مضمون د شاعرانو تاریخچه نده یو پله پسی علمی بحث دی چه زرگونه بیتونه ، لنډی . ملی سندری د مثال په ډول پکښی ذکر شوی او غرض ئی دادی چه د پښتو ملی ادب هم د ارسطو تعلیمی چوکاټ ډکولای شی ، کیږی چه د انسانی تصور له کبله کومه علمی سهو هم ولری ځکه په خپله موضوع کی لمړنی اثر دی چه پوهان ئی پیژنی نو که د زمریالی رښیا منظور له خدمت څخه وژبی ته وای ده به د مضمون یوه علمی غلطی نیولی وه چه هم ئی د ادبی قانون له رویه د خپل اعتراض حق پیدا کړی وای او هم ئی د وینا موضوع یو بیت (هغه هم د چا دی د چا ندی) یو محض غونډاری نه گڼل کیدای ، که دی د علمی مرستی یار نه وی نو دغه یو بیت که د رحمان وی لیا د بل چا ، د پښتو یو بیت خوده ، یو اځی دغه قدر زما وهغی ټوټی ته مثال کیدای شی ، نو څه مطلب هم نه ؤ ، او که بیا دی د ملی ادب محقق ځان گڼی ، سره له سنده به ئی یو فټ نوټ درلیږلی ؤ چه په بله گڼه کښی نیول شوی وای . ادبی مرسته هر څوك سره کوی مگر په مهذبو الفاظو ؟ خیر خو دا بی دلیله خندا هم یو کار دی ؟

مگر ودی گڼله شی چه زه د زمریالی صاحب هابی سنده پیلالوجی نشم منلای او نه پداسی غونډارو زما د علمی مقالی ارزښت څوك کمولای شی ، ځکه زه وخپلی مقالی ته د کلو کلو تتبع لرم او اوس هم تر ساو زیات کتابونه زما په لاس کی دی ، کولای شم خپل مضمون په پښتو وی که په پاړسو وپای ته ورسوم ، کدی وائی رحمان بابا کرټ دا برخه نه لری ودی وائی دا بیت د چا دی (خوشالان او دولتان می غلامان دی)؟ آیا سردار خوشحال خان د پښتو پلا ، لیا دولت لوانی تر بابا متقدم استاذ او متصوف نه ؤ چه دی ئی سره له واړو امثالو د دوی خپل مریان ، بولی ؟ وگوری دا وینا په کومه برخه اړه لری ؟

بل ځای وائی : « په سبب د ظالمانو حاکمانو گورو اورو پښور دری واړه یودی » آیا دا یو سیاسی شعر ندی ؟ استغفرالله زه د بابا په وینا څ؟ اعتراض نلرم ، که چا بی له پښتو د نورو ژبو ادبیات هم لیدلی وی هغه پوهیږی چه دا برخه د ادب په ټوټو کښی یوه ځانته ټوټه ده ، زه بابا یو اجتماعی ادیب ، یو لوی مصلح گڼم ، دی یو اځی له اجتماع وتلی ، یو مستغرق عاشق او دلیلی مجنون ندی ، قبض او بسط چه د عرفانی

ژوند له حالاتو گڼل کېږی طبعاً بابا هم درلود ، اودهغه په ترڅ کښې ده هم هر ډول انسانی تخیلات څرګندول غوښتی ، هره جنبه‌ئی په اشعار کښې شته اولکه دنړی لوی پوهان بابا یواجتماعی پښتون ، ملی مصلح ، ادیب ، شاعر او دمکتب خاوند دی .

مشره ! زه دزمریالی په تولو علمی مزایاو خبریم ، زما ملګری و اوما لده سره مرستی هم کړی ، دی وائی دعشق عالم ؟ دعشق‌عالم څه‌وی ؟ بابا وجودی و ؟ شهودلی‌و ، مجذوب سالك ، سالك مجذوب‌څه ډول متصوف دی ؟ تصوف یعنی څه ؟ سعدی ، بیدل ، مولانا لیا نور پخوانی متصوفینو دا ډول عشق نه‌درلود ؟ ترڅو چه سړی پوه شی زمریالی صاحب لدغه اعتراض څخه څه مطلب لری؟ زما دمقالی علمی سهوه کومه‌ده.

وائی چاپو څه میندلی و چه هغه‌ئی نه پېژندل واکرتئی راوړه، پښتنه ئی و کړه چه دغه راوښیه، اکړ ئی پوه پلا وژړل اوبیائی لکه زمریالی صاحب ډېر وخندل ، سایل هیښ پاته شو ، وروسته اکړ په خبرو راغی وویل مایدی وژړل چه‌سبا به زه مریم تاسی به دانه پېژنی اوخاندم په‌دی چه زه ئی هم نه پېژنم ؟ . . . زما په ګمان دزمریالی صاحب تتبع همدغه خنداده . لکه چه داکړ نقل ورپیاد شوی دی ؟

پوه ورځ دی په بازار کی په مخه راغی دترتنی پدودئی دوی قیام الدین څه اوشمر ئی څه چه تا هغه په مسابقه کښې اینې ، زه ستاسی دوالدو په شعرونه پوهیدم ، مایه خندا ورته وویل چه ته اوس په دی خبرونه پوهیږی اود « ابی العنا ابن خلاد » منظومه می ورته وویله اوترجمه می کړه : من کان یملك دائماً تعلمة شفتاه انواع الکلام فقلا . . . الخ خبر خو خبری ډېری ندی شی دی خو زما پـه مقاله پوه شوی دی ؟

مشره ! ماته دفارابی لوی منطق ، دد کتور محمد تدین او نورو مطبوع آثار پراته دی ، زه چه دپښتو ملی ادب دارسطو په منطقی چوکاټ تلل غواړم وماته څه فرق کوی چه دایوبیت دچادی بلکه دپر لحله زه خپله تعلیمی ویناپه لنډ پوهم پنا کوم ترڅو چه دپښتو ملی اداب ، لکه چه دی ، یو بشری ، تعلیمی ، منطقی ، ادب معرفی او ثابت کړای شم لاکن د زمریالی نسبت پدغه بیت کی وخپل آشنا ته له دووحالو ندی خالی که درحمان وی هغه غلا کړی ،او که درحمان نه وی ،درحمان په نامه‌ئی ویلی وی متقلب دی چه دزمریالی غوندی محقق سړی آشنا بایدنه وای، زمایه عقیده تردی لوی ادبی ظلم نشته چه رحمان بابا یو تارك ، مستغرق دعشق لیونی وکښو دی په خپله ځان دشعر مجتهد بولی او وائی :(چه دا نور شاعران کاندی هغه ټکنا رحمان کړی نوی نوی اجتهاد دی ،) بل ځای وائی :(هم په مدح هم په هجوښه پوهیږم ولی نیم پدی چارو ډېر خورسند) (په ډېر خورسند کی تأمل وکړی) .

وګوری دبابا خپاره شوی اشعار هم اجتماعی ، اخلاقی ، دینی . سیاسی ، عشقی ، تصوفی او نوری واړه برخی لری اوهم دی وائی (ښه ده ښه ده دادنیا چه توښه ده دعقبا) خبره درازیږی اودبابا داشعاروتول څنګونه دلته نه سپنل کیږی خوښه به داوی چه اوس پام وکړو ، دایو دبل په غړه کښې ولیدل د پښتو په ګټه نشوه تمامه ، زه دزمریالی له زیاره زحمت څخه نیم ناکاره اودی دی هم ونوروته حق ورکړی او له خارج څخه دی غوندارې نه ور رغړوی ، ها یو بیت (هغه هم د چادی دچا ندی) پـدی ډول نیش‌دارو الفاظو څرګندول له داسی مهذب سړی څخه ، ډېره ګټه سربیره پردی که ده وه اعتراف نامه له خپله دوسته واخستله هغه دی ماته لیا ، وتاسی ته درولیږی چه شاعرئی په سند سره معلوم شی دومره خبره نده زه بی وسلم که نه‌هاوی نه‌دا ، انصاف وکړه ، دده خبره په کوم دلیل ثقه بولی ، یوالحی دی حجت الحق دی ؟ عفو غواړم رانه اوزده شوه والسلام .

(غلام جیلانی جلالی)

فولکلور

یوه ملی لوبه کونۍ

نور محمد کړزی

دښار وګړی کونۍ وهغو وړو کنجیوته وائی چه په قفسو کی ومرغا نوته او به اودانی پکښی اچوی مګر دښارو څخه دباندی په کلو او باندو کی یوه پهزړه پوری لوبهده چه ټول واړه هلکان ئی دوز ګاری پهوقت کی سهار وختی اومازیګر دساعت تیری اوغړو دتکړه توب لپاره کوی .

دالو به دڅلورو هلکانو څخه نیولی تر ۱۲ یا ۱۶ وړ کو پوری په ګډه ترسره کولای شی پردی ډول چه سم نیمی ئی یوی خواته شی او سم نیمی ئی بلی خواته شی او لمړی ټوله په ګډه سره په مځکه کی دخپل شمیر پهمیچ ګردی ګردی وړو کی وړو کی ژوری غاری پرسا کړی چه هره یوه غار دلوب غاړو له ډلی څخه دخپل ځان لپاره وټاکی ، لس ګامه لیری ودریږی یو وړو کی بادی ګین یادټو کرانو ګین ور ته راګیل کړی (پههغه ژو رو ځایو کی چه د کو نهیو پهنامه سره یادیږی) اچو ی هر کله چه ګین ددې کونهیو څخه پهیو کی واو یدی سمد ستی ئی څښتن دهغې کو نهې یعنی ژور ځای را اخلی اودخپلو ملګرو څخه ماسیواهغه نور هلکان چهدده دټل مقا بل ګڼل کیږی، پهولی او هغه همژر ترژر پهمندو اوبیړهسرهځان لیری او ګوښی کوی .

هر کله چه د کونۍ څښتن په هغو پسی توب یعنی ګین دو شتلو او لګیدو لپا ره وغور ځوی کهولګیدی خو ښهاو که خطا شو بیا نو دهر ی ډلی ونفرته

چه په لاس ورغی د هغه بلې ډلی هلکان په ولی تر هغو پوری گین دیوې ډلی څخه وبلی ډلی ته پلاس ورځی او دواړی ډلی منډی وهی چه گین ددوا ړو ډلو څخه پر نفر باندی لگیږی - هر کله چه گین ولگیدی بیانو د گین وشتونکی ډله د گین لگیدونکی دډلی په شاورځی او بیرته دهغه کونړیو ومیدان ته راځی گټونکی ئی په شاوی او دبا یلونکو څخه یو نفر بیا گین د کونړیو وخوا ته ور گیله وی ترڅو چه بیا په یوه کونړۍ که ولویږی نو که گین و کونړۍ ته ورشوه شی سمدستی هغه نفری چه دبا یلونکی ډلی په شاوی کښته کیږی که گین بیا ددوی په سوړو کی لویدلی وی بیا خپل مقابل طرف په ولی او که دبا یلونکو په کونړیو کی وی بیانو تښتی چه هغه بله ډله ئی ونه ولی په دې ډول باندی دبا یللو په سبب نور په شا کوی او د گټلو په موجب دنورو په شا ورځی دستا یلو وړئی تکړه منډی اوژر تښتیدل دی په تیره بیا کوم وخت چه یو دروند پیټی دسړی په اوږو باروی اودی پر خپل هدف باندی برابر گذار کوی ځنی داسی وړ کی چه ډیره چالاکی لری ژرژر گین و کونړیو ته اچوی اوژر ژر نور هلکان په ولی دهغو سره نور هلکان لوبی نه کوی .



لکه څنګه چې په پسرلی کی ښکلی ښکلی ګلونه غوړېږی همداشان
دسینما په آسمان کی ښکلی ستوری ځلېږی « تاما را لیس »
دلندن د ستودیو نوی ګل دی

ماسو

کیسې اونکلونه

ملګری

دروسی ستر ادیب ماکسیم ګورکی اثر

پښتو کوونکی : ښاغلی واسعی

دکار خانې دشپېلۍ ازانګه دکاردتما مېدوزیرۍ وکی نو کارخانې چه هرڅه انسانان په نس کی درلوده دباندی اوغور ځول . لکه دکورې څخه چه زړې ایرنی را وغور ځوی خلق دکار خانې څخه داسی را وتل تاچه ویل دخړاو ګرزن لوګی لوخړی دی . کارګران بازاروته راو لوېده مګر وروسته تر هغه چه ور ځنی حیات ئې کار خانې ځنی وهپېله، اودبدن اواندامو طاقت ئې ځنی زبېښلی ؤ دوی لادښار هوانه وه وهلی چه اوازونه ئې روښانه سوه اوبیده زغونه ئې ویښ سوه اودکاره وتلوبدنو ته ئې حیات ورغی اونوی آمال اوآرزو ګانی پکښی وښورېدې دغه دی دنن ور ځی کار تمام سو اوس دغه کسان خپلو کوروته ځی هغو کوروته چه دما ښام دپاره خو را اعلی ډوډیانی پکښی تهیه کیږی اود خوشحالۍ اوراحت ټول وسایل پکښی موجوددی هغو ځایوته ځی چه ترنیمو شپو پوری نقلونه اوخوشحالۍ پکښی کوی . دوی خپلو کوروته روان دی اوپه فضا کی ئی دخندا او کټکی ازانګې وې بیانو خپلو دخواب ځایوته وروسته ترهغه چه دخپلو ښځو دخوا خورا ډېر ښکنځل اوسپکاوی ووینی ورځی .

دهغه خوا پوته کار ګرژوند هم په دغه صورت سره کېده دا کار ګردی «فلاسوف» چه خورا ئې سړی باید ددؤ تنګو ستر ګو څخه وبیریږی ، دغه رنګه ئې یوه خبیثه منافقانه خندا هم درلوده ..... دی دقلفانو دخورا ماهرو استادانو څخه ؤاوپه کلی کی یوغښتلی سړی بلل کېده

مگر خورا ژبور اوبد خلق چه‌دهر چابد ځنی راتله، اوپه کار خانه کی‌توله ځنی بېر بده داځکه چه دده دستر گو څخه بدوالی معلو میدو اوپه قوی موته کی‌ئې هرچا دځان مرگ لیده . نوئې دزوی خواځنی توره سوې اوماندینه ئی‌ځنی مړه‌وه، اودده دلاسه کور سوراور اودوزخ گرزېدلی ؤ .

داسړی ناجوړه‌سونو طبیب ورته راغی‌مگر دالېږه‌اوتوره بلایوه‌لوی دښمن ته‌هم سر کښته نکی اودطبیب دمخه ئې ناري کړه : «چه‌ولاړسه شیطان ! ته زمانه‌ئې په کار اونه دمرگه څخه بېر ېږم »

ددې بلی ورځی په‌سهار ئې ساه‌ور کړه اونفس ئې وخوت داهغه وقت ؤ چه‌د کار خانې شپېلۍ بیده وېښول ..... نوئې پر یوه نری او زاړه کټ واچاوه خوله ئی وا زه اوتندی ئې تریو، اومخ ئې خفه اوبړوس نیولی ؤ .

دجنازې سره ئې ماندینه، و دده کچنی سپی او یو دده د شرابو د اشنایانو څخه سره د کلی دځینو نامتو کسان ولاړه .... دا کسان ټوله ځنی را و گرزېده فقط یو وفادار سپی ئې پر قبر پاته سوچه هلته ئې پر انگولل .

«ژرډو ډۍ ! هلی ډوډۍ وا چوی ! »

زوی «بافیل» ئې دغه ناري وهلې او دستر خوان ئې په‌چپلا خه واهه . نوئې مور ژر ورغله اواړخ ته‌ئې کښېنسته اودده په غاړه کی‌ئې لاسونه ورحلقه کړه‌دده سرئې خپل ټټرته ورنزدې کی.مگر زوی بې عاطفی خوراپه شدت دځانه‌څخه پوری هله اودغه ناری وهی‌چه:

« ژ سه ! ژرسه ! »

نومور اراده و کړه چه دده قهر او غضب ورآ رام کی او دشرابو په عاقبت ئې و پهوی مگرده ئې خبره ورپرې کړه اوورته وې ویل : «زه‌به‌چلم هم وا خلم . زمادپلار چلم چیری دی ؟ » نوخورا یوه سخته‌سر کښتی ورپېښه سوه. مورژر پرځای‌پرې یوست‌اولوند دسمال ئې پر سر او تندی وروا چاوه خو آخرته پر سد راغی او په نیم پټو ستر گو ئې دبا ټو گانو ترچا کو، چه‌په اوښکو کی غرق وه مورته و کتل او ورته وې ویل : «لکه زما چه لا تر اوسه دشرابو دخوړلو وقت ته‌وی را رسیدلی نور خلق چه هرڅه وخوری پر وائی نکیږی او هیڅ نه‌په کوی مگر پرما ښه نلگیږی » نومور په یوه ضعیف آواز جواب ور کی :

«عجب د کور څښتن به ئې؟ چه ددې وقته څخه بیانه په شرابو اموخته شوی» زوی ستر گی د کو لکانو څخه راو کښې او ورته وې ویل :«هر انسان شراب خوری» نو ئې مور خو را تاوده تاوده نفسونه و کښل اووې ویل : «تر دی دمخه دی پلار شراب خواړه اوخوا رۍ ؤ زحمتو نه ئې راباندی تیر کړه . . . . نوزو یه! ته خوپردې خپلی عاجزې مور رحم و که» زوی ددغه نزدې ژوند په فکر اواندیښنه کی ډوب سرو دمور خوار کی په ژوند کی ئې اندیښنه بنده شوه چه دده دپلار دلاسه ئې څه خوارۍ او تلغمی هم تیر ی نکړې، او څه ظلمونه اوز حمتونه ئې یو وړه مور چه بیرته په راو گر زیده دی بیابیده ؤ نو ئې یوه گړی دڅنگه سره ولاړه وه اوهغه لاس ئی چه گلاس ئې دابو په رااخیستی ؤ اوپه دستر خوان ئې ایښوه ریښ د یده او هغه صو رت ته ئې چه مخا مخ ته ئې پر دیوال ځړ یده سجده و کړه اوپه آر امی اوپټه خوله پرلمانځه و دریده یوه گړی ور سته ئې دغو زوسره بیاد مستا نو اونښه شرابخورانو آواز واو کرزو روغبړ او مصا فحه و کړه

بافیل هم دنورو کار گرانو غوندی ژوند کاوه یووخت او یودغا ړې دتړلو رنگ رنگ رښکۍ ئی سره دیو ې ښکلی لکړ ی را نیوه او دشپې دخو ابه سینما او تیا ترو نه تلې او د خلقو سره بې گدون او راشه ورشه کو له مگر دی نوی ژوند ون ئې څو مری دوام و نه موند اوژرئې لاس ځنی واخیست او دځان دپاره ئې یوه مخصو صه لاره وټا کله هغه داده چه ددوستانو اوخپلوانو سره ئې لیدل او کتنه لږ کړه اوپه خورا یوه عجیب او مدهش شوق ؤ ذوق ئی پر مطا لعه او د کتا بو پر درس اولو ستلو ورو سته ترهغه چه د کتا ب اومطالعې څخه ئی ښه نه راتله مخه راو کړه .

بافیل ؟ ته نیکمرغه اوطالعمن نه ئې ؟

هو زه ؤ خپل مقصد .

ته ورځ په ورځ ډنگر ېږی

نوچپ شو او ږغ ئې ونه کی .

ددوی دؤتر میانځ به پدغه ډرل خبری سره شروع شوې اوبیر ته به ژراو په تلوار سره خلاصی شو ې تر دې اند از ې چه سهار دو خته چه بې ځا ئې په پټه خو له وخو ړې سمد ستی به خپل کار ته ولاړ او ترما شامه به خپل کور ته نه راتلې. ماښام چه به هم کو رته را غی

اول یې غسل و کی بیا یې ډوډۍ وخوړله نو به ژر خپلی د مطالعې خونی ته ورغی او ترنیموشپو پوری به اخته ؤ .

موردې حالت ته خورا حیرانه وه او بیخی پردې وبېرېده چه دډیری گوښه والی او نه خبرو څخه دې خبری هیری سی اودی ناڅاپه تطورنه به پسی حیرانه وه چه دده پر نفسی حالت راغلی ؤ پزیاته بیاچه دې خبری ته بې و کتل چه وار په وار پده کی تقویه کیږی او په ځان کی ئی روزنه اوښه پسی پالی ، دځان صفائی بې کوله پرپاك ځای به کښېنوست او پاك بی اغوستله نومور حیران وه اودائې ټینگ زړه نه لوېدلی وه چه یو پټه خبره هرو مرو سته او زوی ئی بې څه ندی .

داځوان اونوی ځوان مگر هیڅ ځوانی مه ځنی کیږه بلکه لکه یوراهب چه پخپله صومعه کی ناست وی تمام عمر به ننوتلی ؤ څوك څه خبر دی؟ چه دا گوښه والی دی دلمړۍ ځوانۍ دعشق او محبت میندلو یوه شروع او مقدمه وی. مگر محبت او مینه خومال اوروپی غواړی اودی خو چه هرڅه گټی ټوله لگوی اودځان دپاره څه نه پرېږدی .

بافیل کورته راغی اودماښام ډوډۍ ئې وخوړه وروسته ئې د کړکۍ پرده واچوله او په مطالعه ئی شروع و کړه ، مورئې ورنزدې سوه او په غوږ کی ئې په ورو ورته وویل :«زه غواړم ستاڅخه پوښتنه و کم چه ته څه شی وائې ؟ »

ده کتاب داړخه سره کښېښود او ورته وې ویل : « کښېنه مور کی !»

مورئې داړخه سره ستونی ستخ و غزېده اود یوه خورا غریب او ډېر خو فنا که شی اروېدلو ته ئې غوږونیوه چه دخبری درك اودمسئلې سرهم ځنی معلوم سو ، اوبې لدې چه مورته مخ ورواړوی یاورته و گوری په کښته اونیولی مگرخورا قوی اومؤثر اوازئې خبری ورسره شروع کړې اوورته وې ویل : « زه داسی کتابونه لولم چه د هغو دلوستلو اجازه ځکه چه دحقیقة څخه زموږ دحقیقة ـ دکار گرانو د حقیقة څخه بحث او خبری کوی چاته نسته ـ دا کتابونه پټ اوپه غلاچاپ سویدی ، او که زماڅخه ونیول سی بندی به سم او ځای به می بندیخانه وی ځکه چه زه غواړم حقیقت ځان ته معلوم کم . » (نوربیا)

ان الله وملئكته يصلون على النبي يا ايها الذين امنوا صلوا عليه وسلموا تسليما

د سيرة النبي

مستطاب کتاب

یعنی د حضرت سرور عالم محمد رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وعلیٰ آله واصحابه وسلم

د اقدس سوانح - دوهم ټوک

چه د هجرت له (۹) کال څخه تر (۱۱) کال پوری

د امنیت د اقامت - د اسلام د اشاعت - د خلافت د تاسیس - د مذهبی انتظامات - د شریعت د تکمیل - د حجة الوداع د دوفات د شمائلو - د اخلاقو د عاداتو پر حالاتو او د ازواج المطهراتو او اولاد الطیباتو پر مختصره تذکره باندی مشتمل دی

مؤلف : مرحوم علامه شبلی نعمانی.

مترجم : برهان الدین کشککی

مهتمم : فهامه سید سلیمان ندوی.

مهتمم : مولوی مسعود علی ندوی.

د پښتو ټولنې د ۱۳۲۸ کال له نمبر (۸۴) خپرونو څخه

د کابل په عمومي مطبعې کښې چاپ شو

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والصلوة على رسوله محمد وآله واصحابه اجمعين

د اسلام مامون ژوندون

دهجرت په (٩) ؤ (١٠) ؤ (١١) کلو کښې

دامن قيام - داسلام اشاعة - دخلافت تاسيس - دشريعت تکميل

(دامنيت اقامت)

دسيرة النبي «ص» داول جلد له لوستلو څخه وروسته دغه حقيقت بيان ته نه دی محتاج چه تر دغه وقت پوری اګر که دعربو يوه يوه ذره هم دفطری صلاحيت او استعداد له مخی يو يو ستوری و ، ليکن هغوی پر کوم «شمسی نظام» پوری تړلی او تابع نه ؤ . ټوله (جزيرة العرب) يو واحد ملك . يو متحد قوم ؤ . خو سره له هغه [پخواله اسلامه] نه هيڅکله تاريخ دهغه د ملکی او دقومی اتحاد کومه نښه او پته راښئی او نه دسياسی له حيثه (عربستان) په کومه زمانه کښې تر يوه عربی بيرغ او علم لاندی سره راټول شويدی همغسی چه هر کور به خپل ځانته بيل بيل خدايان لرل عينا همغسی به دهری قبيلی هم ځان ځانته جلا جلا مشران او رئيسان ؤ .

په جنوبی عربستان کښې د (حميری) او د (اذداء) او د (اقيال) وړوکی وړوکی حکومتونه ؤ .

په شمالی عربستان کښې د (بکر - تغلب - شيبان - ازد - قضاعة - کنده - لخم - جذام - بنو حنيفه - طی - اسد - هوازن - غطفان - اوس خزرج - ثقيف - قريشو) او دنورو قبائلو کوچنی کوچنی ټولنی وی چه تل تر تله به دوی په خپلو منځو کښې سره جنګېدل او يوه ټولنه به دبلی ټولنې وينو ته تږی ناسته وه .

د (بکر) او د (تغلب) څلويښت کلنی جنګ پهمدغو وروستنيو کلو کښې پايته رسېدلی ؤ .

د (کنده) او د (حضرت موت) قبائل دخپلو جنګونو له سببه بېخی پوپنا او سره ورك شوی ؤ .

(اوس) او (خزرج) پخپلو سختو کورنيو جنګو کښې خپل يولوی سردار له لاسه ايستلی ؤ .

خاص په (ارض الحرم) او بيا په (اشهر الحرم) کښې د (بنو قيس) او د (قريشو) په منځکښې د (حرب الفجار) سلسله جاری وه .

په همدغه شان او بيان په ټول عربستان کښې د کورنيو جنګونو اورونه همداسی بليدل اووينی هر چېری بهېدی .

په غرونو او بیدیاؤ او بیابانو کښې دغسې قبائل او سېده چه گرد سره خود مختاران مجرمان او سخت شریران او فسادیان ؤ - ټول وطن دقتل داړ ماری - تالا - غلا - سفاکی - بیباکی - بیحیائی - بیشرمی دوینو دلوی سینه په اموا جو اوجپو کښې ډوب پروت ؤ - او گرد قبائل دجنگونو دغیر مختمی سلسلی په ځنځیرو کښې سره بند اوتړلی شوی ؤ. د« انتقام » د« ثار » اود « دیت » تنده سره له دی چه په سلها ؤ بلکه زرها ؤ سړی سره پکښې وژلی شوی ؤ ، خو بیاهم نه و ماته شوی. دپخوانیو عربو د ژوندانه اود معاش وسیله له داړی غدی - تالا - او غلا څخه وروسته یوا ځی تجارة ؤ لیکن د تجارتی قوافلو تگ او راتگ له یوه ځایه وبل ځای ته ډېر سخت او مشکل ؤ.

د(حیرة) عربی پاچا او ټولواك اگر که په شمالی عربستان کښې د کافی اثر او اقتدار خاوند ؤ. خو سره له هغه دده دملك تجارتی اموال به د (عکاظ) تر بازارو پورې په آسانی سره نشوای رسیدلای. دحج میاشتی اگر که عملاً په عربو کښې مقدسی او محرمی وی ، خو سره له هغه هم دجنگونو دجواز لپاره به ئی پهغو کښې سره لاندی باندی وړاندی او وروسته والی کا وه

(ابو علی القالی رح) پخپل (کتاب الامالی) کښې داسی لیکی :

و ذلك لانهم كانو يكرهون ان تتوالى عليهم ثلاثة اشهر لا تمكنهم الا غارة فيها لان معاشهم كان من الاغارة (١)

دغه د میاشتو وړاندی او وروسته کول لدیجهته ؤ چه عرب پدې نه ؤ خوښ چه پرهغوی باندی پر له پسی داسی دری میاشتی تېری شی چه دوی پهغو کښې اوټ او داړه ونکړی. ځکه چه د هغوی د ژوندانه او د معاش وسیله همغه داړه وه.

د ډېرو فسادی او شریرو قبائلو د معاش او د ژوندانه د وسیلی لپاره همدغه د حج موسم د پسرلی د موسم پشان ؤ - د (مکی معظمی) په شاؤ خوا کښې د (اسلم) او د (غفار) او نور قبائل او سېده چه د حجاجو په شکولو سره بد نام او مطعون ؤ (٢)

د (طی) قبیله یوه نهایته ممتازه او نومیالی قبیله وه ، خو سره له هغه د (طی) غله او اشرار هم ډېر مشهور ؤ (٣) (سلیك ابن السنکه) او (تابط شراً) اگر که د عربو له مشهورو شعراو څخه ؤ ، لیکن ددوی د شاعری اکثریه پنگه او سرمایه یوا ځی د هغوی د غلا او د داړی او د حیلې او پلمې د قصو مفاخر او مجموعه وه (٣) :

په عربستان کښې د بدامنی او د اضطراب حال داسی ؤ چه د (عبدالقیس) قبیله چه د (بحرین) یو طاقتور قوم ؤ د هجرة تر پنجم کال پوری د (مضری) قبائلو له خوفه پرته له (اشهر الحرم) څخه په نورو اوقاتو کښې د (ارض الحجاز) په لوری نشوای تلای (٤)

د (مکی معظمی) له فتحی څخه وروسته کله چه په عربستان کښې د امنیت او سکون ابتدائی مرحله

---

(١) : د (الامالی) مصری چاپ د اول جلد شپږم مخ وگوری ۱

(٢) : وگوری ۱ په (صحیح بخاری شریف) کښې د (اسلم) او د (غفار) ذکر.

(٣) : وگوری ۱ په (صحیح بخاری شریف) کښې باب علامات النبوة.

(٤) : وگوری ۱ د (صحیح بخاری شریف) کتاب الایمان.

شروع شوی وه خوسره له هغه له (مکی معظمی) څخه تر (مدینی منوری) پوری مسافرت خطرناك ؤ او پدغه وقتکښې هم لا لیاری شکولی کېدی او ځای پځای کښې داړه ماران اوسېدل (١).

د هجرة د پنځم او شپږم کال څخه وروسته هم د (شام) تجارتی قافله په رڼا ورځ کښې لوټیده (٢) او خبره تر دغه ځای پوری رسېدلی وه چه کله نا کله پخپله د دارالاسلام پر څړ ځایو او چراګاهو باندی هم غله او داړه لوېده (٣) [او د مسلمانانو مواشی به بیولی کېدل]

کله چه (حضرت محمد رسول الله ص) به خلقوته دغسی زیری او بشارة ورکاوه چه پر عربستان به دامنیت او اطمینان دغسی یوه زمانه راشی چه له (صنعاء) څخه به یوه مستوره ښځه پخپل محمل کښې یوازې ناسته [تر حضرموت پوری] مسافرة کوی او له ماسواءالله څخه له بل هېچا به نه وېرېږي (٤) نو خلق به متعجب کېدل.

د هجرة په نهم کال کښې څه وقت چه یو سړی راغی او د (حضرت محمد رسول الله ص) بحضور کښې ئی دغسی شکایت وکړ چه: «غلو ځما ټول اموال وړی دی!» نو (حضرت ص) وفرمایل چه:

« هغه زمانه ضرور ژر را تلونکی ده چه (مکی معظمی) ته »

« به قافلی بی له بدرغی او محافظینو تګ اوراتګ کوی (٥). »

د عربستان پدغه لویه جزیره وزمی کښې یوازې محترم حرم دغسی یوځای ؤ چه هلته به خلقوته امنیت او اطمینان میسرؤ لکه (الله تعالی) پر قریشو باندی خپل دغه احسان دغسی بیان فرمایی.

فلیعبدوا رب پس عبادت دی کوی [قریشو].

هذا البیت الذی رب د دی کور [لوی] لره هغه چه

اطعمهم من جوع طعام ئی ور کړیدی دوی لره له لوږی نه او په

وآمنهم من خوف امن ئی کړل دوی له وېری لو ئی نه. (٦)

او لم یروا آیا نه وینی [نه پوهېږی مکیانو پدی باندی] چه بېشکه

اناجعلنا حرما امنا موګر ځولی دی مونږ [داښار ددوی مکه] حرم

ویتخطف الناس امن ور کونکی [له آفاتو نه] حالدا چه چور کېږی

من حولهم [ژر تښتول کېږی نور] خلق له چاپېره ددوی. (٧)

---

(١) : وګوری د (ابوداؤد) کتاب الادب باب الحذر.

(٢) : وګوری د (طبقات ابن سعد رح) د جزء المغازی ٦٣ ؤ ٦٤ ؤ ٦٥ مخ.

(٣) : وګوری غزوة السویق او غزوة الغابه!

(٤) : وګوری په (صحیح بخاری شریف) کښې باب علامات النبوة.

(٥) : وګوری د (صحیح بخاری شریف) (١٩٠) مخ.

(٦) : دغه د قرآن کریم په (٣٠) جزء د القریش د سورة یو آیت دی تفسیر ئی په موضح الفرقان کښې راغلی دی.

(٧) : دغه د قرآن په ٢١ جزء کښې د العنکبوت (٦٧) آیت دی چه ترجمه او تفسیر ئی ځمونږ د پښتو فوائد موضح الفرقان په (٢٤٨٣) مخ کښې راغلی دی.

پخپله د اسلام ابتدائی حالت څرنګه ؤ؟ (حضرت محمد رسول الله ص) د عام الحزن څخه وروسته تر درو کلو پورې پرله پسې تولو قبیلو ته ورغی اوله هغوی څخه ئې دغسې غوښتنې وکولې چه ښائی تاسې ماته ددغې خبرې لپاره امان راکړئ چه دالله تعالی پیغام خلقو ته ورسوم - لیکن هیڅ یوه قبیله اوقوم نه شو پیدا چه د (حضرت نبوی ص) حمایت وکوی. نور مسلمانان په دې باندې هم نه ؤ مقتدر چه د عربستان په فضا کښې خپل نفس اوساتی هم لاندې باندې کړای شی. دامنیت او طمانیت په پلټنې پسې مسلمانان د (افریقی) او د (حبشی) ترشکو پورې هم ولاړل هغه مسلمانان چه دمجبوریت یا دمعذوریت له کبله په (عربو) کښې پاتې شوی ؤ، پرهغوی باندې دزړه زاړه ظلمونه اوتیری پمل راتلل پخپله قرآن کریم دمسلمانانو احوال داسې بیان فرمائی:

واذکروا اذانتم قلیل او یاد کړئ تاسې (ای مؤمنانو) هغه وقت
مستضعفون فی الارض چه تاسې لږ وئ ضعیفان مغلوبان کړی
تخافون ان شوی وئ په ځمکه کښې وبریدی تاسې لدپښه
یتخطفکم الناس (۱) چه وبه تښتوی په جلتی سره تاسې لره خلق

ددغه ملکی شورش اوبی امنی نتیجه دغه وه چه بدغه ملک کښې هیڅ یو تحریک اومقصد بی دخپل ځان دساتنې اودعسکری تدابیرو له اجراء کولو څخه نشوای ترسره اومراد او کامیابیدای. د(حضرت محمدرسول الله ص) اصلی فریضه اسلامی «تبلیغ» اودعوة ؤ چه دهغه لپاره [بی له ضرورته] لښکر اوفوج ته او دتوری اوتلوار او دغېشو اوتېرو غځارو اوته څه ضرورت نه ؤ او [بلامورده] فوج او لښکرئی نه ؤ پکار. لیکن څرنګه چه له یوه جانبه دښمنانو به پرله پسې پرغل اوحملې کولې - اوله بل جانبه هرچېرې داسلامی مبلغینو ځانونه دکفارو ترخطرې لاندې ؤ. اوتول تجارتی قافلې اوجوړې غیرمامونې وې چه پرهغو باندې دعربستان دمعاش اوژوندانه مدار ؤ لکه چه دهغه تفصیلی واقعات پخوا المدینه دغزوات النبی په انواع اواسباب کښې ښکلی شوی دی.

بهرحال دغه خودعربستان داخلی خرابی وه خارجی خطرات ئې هم خورامهم ؤ. دعربستان تولې ودانې اوحاصلداری ځمکې اورومی او پارسی دوو سترو تولواکانو ترلاسو اوتصرف لاندې وې تقریباً له شپیتو کلو را ئیسی د(پارس) ستر تولواکی دیمن - عمان او دبحرینو مالک کړ ځیدلی ؤ، او د(پارس) تر اقتدار اونفوذ لاندې تش په نامه عربی رئیسان واکوالان ؤ د(عراق) په حدود کښې د(آل المنذر) حکومت دپارسیانو له خوامضمحل شوی ؤ، او پارسیانو د(عراق) پمنځکښې پرمخ تګ او تصرفاتو ته لاسونه غځولی ؤ. دغه اسلامی تحریک چه په (حجاز) کښې شروع شوی ؤ پارسیانو دغه منطقه او سیمه هم خپل حدود ګڼلې چه دهجرت په شپږم کال کښې د(پارس) ستر تولواک خپل یمنی والی اووا کمن ته حکم صادر کړ «هغه ځمارعیتی سړی چه په (حجاز) کښې دنبوت مدعی شوی دی، بندی ځما دربارته راولیږه»

(۱) دغه دقرآن کریم په (۹) جزء دالا نفال دسورة یو آیت دی چه تفسیر ئې ځمو نږ د پښتو «فوائد موضح الفرقان» په (۱۰۷۱) مخکښې مرقوم دی.

رومیانو د (شام) پرحدود قبضه کړی وه (آل الغسان) او نور عربی کوچنی رؤسا چه له ډیری زمانی رائیسی عیسوی مذهب ته او ښتی ؤ او د رومیانو اطاعت ئی منلی ؤ، دهجرت دا تم کال څخه رائیسی دغه عیسوی رؤساء دعربو په امداد پر (مدینی منوری) باندی د حملی په تیاری کښ وه چه دواقعی ظهور ئی د (تبوك) او د (موته) او نورو په صورت وشو.

دعیسوی په دوهمه پیړی کښ رومیانو دجهودانو له لاسه د (شام) اود (فلسطین) ضعیف حکومت ایستلی ؤ او جهودان مجبوراً د (شام) له حدودو څخه د (حجاز) تر منځه پوری لرې تللی ؤ - او د خپلو ځانو لپاره ئی له (شام) څخه تر (مدینی منوری) پوری پرله پسې کلاوی جوړی کړی وی - دغه ځایونه د جهودانو جنګی استحکامات هم ؤ - او د تجارتی ګودامو په شان هم استعمالیدل. (قریظه - نضیر قینقاع (١) خیبر - فدك - تیماء - وادی القری (٢) او نور د جهودانو لوی لوی چاونۍ وی.

د قرآن مجید په لاندنیو آیاتو کښ د جهودانو ددغو کلاؤ په طرف اشاره کړی شوی ده:

لایقاتلونکم جمیعاً جنګ نه کوی دغه [مخالفین] له تاسو
الا فی قری محصنة سره ټول په جمع سره مګر خو په هغو کلیو
او من وراء جدر محکمو کړیو شویو کښ یا له وروستو د دیوالونو (٣)

وانزل الذین ظاهروهم اورا کوزه کړل الله هغه کسان چه مدد ګاری
من اهل الکتاب ئی کړی وي لدغو [احزابو] سره له اهل الکتاب
من صیاصیهم څخه [چه بنی قریظه ؤ] له کلا ؤ د دوی څخه.

همغسی چه په قدیمی زمانو کښ دمالی کارونو وسعت (هسپانیې) اونورو اروپائی ممالکو په (یوروپ) کښ د سیاست یو خطرناکه عنصر ګرځولی ؤ - عیناً د جهودانو وضعیت هم په (عربستان) کښ همغسی ؤ - جهودانو دخپلو دغو څو کلاؤ له سببه قطعا اسلامی قوة اوقدرت ته په درنه سترګه نه کتل. او له همدغه سببه مسلمانانو ته څو جنګونه د همدغو جهودانو د شرارت او مداخلت لامله ور وړاندی شول. کله چه د (بدر) په غزا کښ مسلمانانو ته فتح او بری ور په برخه شو، نوجهودانو دتفخر په لهجه داسی ویل:

«بیچاره مکیان دجنګ له اصوله کله خبر دی؟ که چیری د دغو مسلمانانو مقابله له مونږه او ځمونږ له کلاؤ سره و لوېږی، نو هلته به ښه وپوهېږی چه جنګ څه شی ته وائی؟.»

الغرض (عربستان) پدغومره متعددو او مختلفو داخلی او خارجی خطراتو کښ آخته او مبتلا ؤ

---

(١): د «یاقوت» په (معجم البلدان) کښ ددغو مقاماتو احوال ولولی!

(٢): دمغازیو او د سیرو په کتابو کښ دغه حالات ولولی په (صحیح بخاری شریف) کښ د کعب بن اشرف اود رافع بن خدیج د قتل ابواب وګوری!

(٣): ددغه د (الحشر) د (١٤) آیة ترجمه او تفسیر ځمونږ د پښتو «فوائد موضح الفرقان» کابلی چاپ په (٣٢٠٤) مخ کښ وګوری.

(٤): ددغه د (الاحزاب) د (٢٦) آیة ترجمه اوتفسیر ځمونږ دپښتو «فوائد موضح الفرقان» کابلی چاپ په (٢٥٦٧) مخ کښ وګوری!.

چه دهغو اصلاح او تدبیر دعامو انسانی جوامعو له لاسونو او متو خخه نه ؤ پوره ، بلکه دالله تعالی د قدرت هغه غیرمرئی لاس په واك او اختیار کښې ؤ چه د (حضرت محمد رسول الله ص) په لستونی کښې پټ ؤ او په « مارمیت اذ رمیت ولکن الله رمی » کښې ورته اشاره شوی ده .

له هجرت خخه اته کاله وروسته د متواترو کوښښو او پر له پسی اصلاحاتو نتیجه دغسی را خرګنده شوه چه نه یوالحی محال دامکان په شکل و اوښت - بلکه واقعی صورت ئی لحانته غوره او اختیار کړ دعربو سیاسی ضعف زیاد تره ددوی په بې اتفاقی او کورنی جنګو او جګړو کښې پټ او مضمر ؤ - ددغی بې اتفاقی او کورنی جنګونو سبب همدغه ؤ چه ټول عرب په مختلفو کورنیو او قبیلو او نسلونو منقسم ؤ په ټول وطن کښې دهغوی داجتماع او اتحاد لپاره هیڅ کومه مستحکمه طریقه نه ؤ موجوده . (حضرت محمد رسول الله ص) د ټول عربستان [بلکه د ټول جهان] د تنظیم او تنسیق لپاره داسلام کړی اورسی قائمه کړه لکه چه یدغه مورد کښې پاك قرآن دغسی ارشاد فرمائی :

« انما المؤمنون اخوة » اویو ناڅا په یدغه روحانی و سیله سره دوینی او د قرابت او خپلوی اودنسل او د قوم او دنورو عنعناتو اساس او تاداو وران اوخراب شو - او یوالحی د « لااله الاالله محمد رسول الله » برقی روح په ټول (عرب) کښې داتحاد او اتفاق قوت او قدرت او حرکت پیدا کړ .

الله تعالی په قرآن مجید کښې د دغه اجتماع او اتحاد وجود ته خپل مخصوص نعمت فرمایلی دی .

واذکروا نعمة الله علیکم	اویاد کړیء تاسی ای مؤمنانو نعمة دالله پر تاسی
اذ کنتم اعداء فالف	کله چه وی ء تاسی دښمنان نو الفت مینه ئی پیدا
بین قلوبکم فاصبحتم	کړه پمنځ دزړو ستاسی کښې نو شوی ء تاسی په نعمت
بنعمته اخوانا	رحمت د الله سره [اسلامی] ورونه (۱)

پخپله الله تعالی (حضرت محمد رسول ص) ئی مخاطب کوځولی داسی ارشاد فرمائی چه :

ایمحمده ! دغو مسلمانانو پمنځکښې اتحاد او اتفاق او مینه او محبت غور ځول ستا کار نه دی ، دغه د مقلب القلوب الله اجل شانه واعظم برهانه کار دی :

هوالذی ایدك بنصره	دغه [الله] هغه [ذاه] دی چه قوة ئی در کړی دی تاته
و بالمؤمنین	[ای محمده !] پنصرة مدد کاری خپلی سره [په لیږلو د
و الف بین	پرښتو په بدر کښې] او په مؤمنانو سره او الفت محبت ئی
قلوبهم لو انفقت ما	واچاوه پمنځ دزړو ددغو [مؤمنانو] کښې ؛ که لکولی

(۱) : د دغه آیت ترجمه او تفسیر لحمو نږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان » د کابل د ۱۳۲۳ کال چاپ په ۳۷٤ ؤ ۳۷۵ مخکښې ولولی .

فی الارض جمیعا وای تاهر هغه چه پځمکه کښې دی ټول نو ته به دی شو

ما الفت بین قلوبهم اچولی الفت محبت پمنځ دزړونو ددوی کښې ولیکن الله

ولکن الله الف بینهم الفت محبت واچاوه پمنځ [دزړونو] ددوی کښې بېشکه

انه عزیز حکیم (١) چه دغه [الله] دی ښه غالب قوی ښه حکمة والا .

له هجرة څخه وروسته د مؤاخاتو او ورور ګلوۍ هغه تعلقات چه د مهاجرینو او انصارو پمنځ کښې د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره قائم کړ شو ، (٢) هغه د دغې سلسلې اوله حلقه او کړۍ وه او د هغه آخری سلسله او کړۍ هغه خطبه ده (٣) چه د (مکی معظمی) د فتحی پموقع کښې (حضرت نبوی ص) ارشاد فرمائلی دی .

قرآن مجید پخپلو متواترو ارشاداتو کښې په ځمکه کښې فتنه او فساد غور ځولو ته دانسانانو خورا بد فعل فرمائلی دی - او د دغه بد فعل د مرتکب لپاره ئی خورا بده سزا مقرر کړی ده . د غلا لپاره ئی د لاس پری کولو سزا ټاکلی ده - د قطاع الطریقۍ لپاره ئی د قتل د غرغری - د قطع الید - د نفی البلد تعزیرات تعین کړی دی . د « المائدة » په سورة کښې د قتل او دوینی تویولو او د سفاکی د انسداد لپاره د قصاص احکام نازل شوی دی . د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره عملا د امن دقیام لپاره متعدد ځلی افواج لېږلی شوی دی - دقطاع الطریقانو قبائلو باندی چپاؤ نه غور ځولی شوی دی (٤) د هغو قبائلو کار چه غلا او قطاع الطریقی و ، هغوی په توبه کولو او مسلمانېدلو باندی مشرف شول - (٥) د امنیت او انضباط د تحکیم لپاره د تعزیری انضباطی امنیی او دیوانی مقدماتو د حل او فصل لپاره قواعد او قوانین وضع شول - اوپهر ځای کښې حاکمان او عاملان مقرر شول .

لیکن دغه ګرد څه چه وشو ، هغه دانسانانو دظاهری فطرت اقتضاء او پابندی وه - که نه دیوه رسول اواستاځی فریضه او وظیفه دیوه مقنن اوعام مدبرله فرائضو څخه پدرجاتو لوړه اومهمه ده . اګر که داسلامی تعزیراتو قانون هم مؤثر ؤ لیکن دقرآن کریم روحانی اثر اود (خاتم الانبیاء محمد رسول الله ص) تلقیناتو فیوض لاله پخوا څخه دافرادو دجرائمو مواد بېخی محو او لرې کړی ؤ - ځکه چه قانون اودتعزیراتو وېره او خوف یواځی په بازارو او د انسانی په عمومی مجامعو کښې خلق له جرائمو څخه ساتلی شی -

مګر داسلامی دعوة دفیوضاتو له اثره دخلقو زړونه دغومره الله تعالی ته متوجه شوی ؤ چه دشپو په تیارو کښې به هم دوی له الله تعالی څخه وېرېدل اوپه بندو کوټو اومقفلو ودانیو

---

(١) : د دغه آیت ترجمه او تفسیر هم ځمونږ په همغه پښتو « فوائد موضح الفرقان » په ١١٠٠ ؤ ١١٠١ مخکښې مطالعه وفرمایی ! .

(٢) : دغه د مؤاخات اساس ځمونږ د دغه کتاب داول جلد په (١٩٤) مخ کښې ښکلی شوی دی .

(٣) : دغه خطبه ښائی ځمونږ د دغه کتاب داول جلد په (٣٦١) مخکښې ولولی ! .

(٤) : د غزوات النبی علل او عوامل ځمونږ د دغه کتاب داول جلد له (٣٩٩) مخ څخه تر (٤٥٠) مخ پوری وګوری .

(٥) : په (صحیح بخاری شریف) کښې د (غفار) او د (اسلم) د قبیلو ذکر وګوری ! .

لنډکی پښتو او پښتنواله

(۳)

لیکونکی ښاغلی مومند :

مستقل مزاجه پښتانه یو، ځمونږ هرڅه به ځمونږ په واك کښې وی، مدنیت به موهم خپل او پښتنی مدنیت وی یوه خبره غوره ده چه (چا دیوه کاکړ نه پوښتنه وکړه چه کاکړ په چا ورځی ؟ مدعائی دغه وه چه په کومه لویه پلرینه ګډیږی! کاکړوو ېیل چه کاکا کاکړ په هیچانه ورځی ! که څوك په کاکړ راځی راځی دې او که نه راځی خوښه ئی کاکړ په چانه ورځی) نو مونږ مجبور نه یو چه په خوراك او څښاك نمړی آو آغوستو کښې د کور او کلی په جوړونی کښې په ناسته او ولاړه، په خبرو او هره او ضاع کښې ..... په هر څه کښې لکه چه ځینې وائی آو غواړی د اوروپا ئیانو په څیر شو ! نه! مونږ مونږ یو او اوروپایان اوروپایان دی او نور نوردی، اوس هم پښتانه له مخې ورك نه دی پښتو او پښتنواله هم بشپړه نه ده واك ځمونږ خپل زده کړی ځلمی (نګه پښتانه ځلمی) به خپله پښتو راڅرګنده کړی، راوبه ئی ګرځوی دغسې د پښتو مدنیت به راته جوړ کړی چه د خلکو سترګی وبرېښوی که څوك راپسی راځی راځی دی که نه مونږ په چا پسی نه ځو، هغه څوك چه بی له دغه څه غواړی هغه به پښتون نه وی ! ځکه چه پښتون په پښتنوالی سره پښتون دی او پښتنواله هم دغه غواړی بیزو پښتون ندی او پښتون هم بیزو ندی که څه هم سم دلاسه پښتانه پرځیدلی او څانګی وانګی پرېوتلی دی په ستونی باندی ئی خلکو پل ایښی دی د سا ښکلو لاره ئی هم نشته (۱) په ملا پرېکړی او دوه بولکه څه چه لا ټوټی ټوټی او ټوکړی ټوکړې دی ددې ټوټو یو دبله سره پیوند کېدل او بیا دیوې تنې جوړید نه او آزاده سا و ېستنه سلامتیا او تکړه توب ئې لکه پخواډېر ګران برېښی دغه تیرې خبری که څه هم یواځی تمنیات دی مګر خدای لوی دی او په هر څه قادر دی پښتانه دده بندګان او سپین مسلمانان دی دده په دین باندی کلك ولاړ دی تل خپل سرونه او مالونه ئی دده ددین په لاری کښې دده درضا دپاره ښندلی او ښندی ئی که شیطان کله په پوټکو ورننو وتلی وی او په ځینو مواردو کښې ئې

(۱) دلوی سیند او بحر نه ئی لرې او محروم کړی دی .

غولولی وی او دنشتمنۍ ، فقر او لوزی لـه آمله (چه دده حبیب لـه هغې نه خپل خاوند ته پناه غوښتی ده) او په ناپوهۍ څه سهوه تنې شوی وی هیله موده چه په خپلې مهربانۍ سره راته هدایت و کړی عفوه و کاندی او د پښتنو ټوټـې ټوټـې شوی انـدامونـه بېرته سره ور ولی پرها رونه ئی ورغوی ، دستونی لاره ئی ور خلاصه کړی درستې نارو غتیا وې تنې لری کړی، روغ رمټ او تکړه ئې کړی او په رښتیا سره ئی دخپل کاله او ملك واکمن کړی ، دکـار سړی پکښې شته کړی او دغې بدحالۍ نه نجات ور کاندی « والله غفور رحیم . »

ښائی چه پښتانه ځلمی ځمونږ د کار سړی اوځانونه ونه بایلی بی هیلې نشی همت ټیټ نکړی متانت او استقامت له لاسه ورنکړی ، پرخدای توکل ، و کړی ، پښتو او پښتنواله را پر سره کړی پښتانه دپښتو په غږ ویښ اودپښتنوالی پر لارې ئې و خوځوی مسلمان اوپښتانه دپاره بې هیلی او ناامیندی نشته (الاان حزب الله هم الغالبون .) بی هیلی کفر دی بی هیلی ډیر خلك د نجات اوموفقیت له وره څخه بېرته راګرځولی دی ، مېړه او بیا پښتون سړی هېڅکله باید بی هیلی نشی ، پښتانه ځلمی خپله دینی او پښتنی وظیفه باید پرځای کړی بیاد کېدلو او نه کیدلو مسئول ئی نه دی

ځکه چه هغه دخدای په قدرت کښی دی هرزده کړی ځلمی ، هر حساس پښتون ، په خپل کاله کښی په خپلی کورنۍ کښی ، دخپلو دوستانو عزیزانو سره ، دخپلو ګاونډیانو سره په دېرو او ډېرو کښی په هرې ډلې کښی دخپل چم ګاونډ او خپلو کلیوالو سره ، په جوماتونو کښی ، په ودونو کښی په هری ټولنی کښی ښائی چه دپښتو مرکه جوړه کړی چه کومه خبره پښتو ده او کومه پښتونه ده څه پښتنواله ده او څه بې پښتوګۍ پخوانۍ پښتو ځمونږ څنګه وه ؟ او اوسنۍ بې پښتوګۍ له کومه شوه ؟ نور له کومه راغله څنګه راغله ، څنګه پاتی شوه دهغولږ کی څنګه را باندی غښتلی شول ؟ لږ کی ولی ښاغلی شول ؟ پښتانه ولی نتلی شول ؟ پښتو به کله راوګرځی ؟ څنګه به را وګرځی څوك به ئی راوګرزوی ؟ دنورو پېښې څنګه پـر ېږد و څنګه بـه تـری لاس وا خـلـو ؟ د پـښـتـو او پښتنوالی په ساتنی او را ګـرځـو نـی کښـی دهر پښتانه وظیفه څه ده ؟ داد هر پښتون وظیفه ده چه تنۍ دې وشکوی منډی دې ووهی ، هاند به کوی ځان به وژنی او پښتو به ګرځوی څوك چه څه لیکلی شی په اخبارونو کښی په مجلو کښی دی مقالې ولیکی دا لازمه نده چه خور الوړه ادبی مقاله دی وی نه !

دچاچه څه زده وی هر څه او هر څه چه لیکلی

شی هغه دی و لیکی دپښتو غږ دی و کړی
اوخپل خیال دې ښکاره او خپل اخلاص دی
څر ګند کړی څوك چه کولی شی په ټولنو کښی
په راډیو کښی دې ویناوې و کړی، کتابونه
دی به پښتو واړه وی، که پښتو سره پښتو
ونه شی پښتو تللی او پښتانه هم دهمدغه له امله
وږی، تږی، بربنډ، بی کوره، خوار زار
سپك، نتلی او څه او څه وی. مونږ خو هم خاوره
لرو، اوبه لرو، غرونه لرو، رغونه لرو، ډاګونه
لرو، ځنګلونه لرو، او په نورو اولسونو
وطنونو کښی هم همدغه وی نه بل څه،
بلکه ځمونږ دملك استعداد پر ډېر وملکونو
زیات دی ځمونږ په غرونو کښی هر ډول
اوخورا ډېر درنګونه (معدنونه) دی چه
په بل ملك کښی نه مینده کېږی؟
ککرۍ لرو، ماغزه لرو، لاسونه لرو، پښی
لرو، نوولی وږی یو، تږی یو، بربنډ یو؟ مملکت
لرو، نفوس لرو، مفاخر ـ تاریخ دولت،
حکومت، استقلال هم لرو، نوولی خوار یو،
نتلی یو، رټلی یو، سپك یو، ورك یو دا ځکه
چه پښتو نلرو، پښتنو اله نلرو، هر څه را نه
خلکو تالا کړی، وړی دی او وړی ئی
کار کوو دبل دپاره، ځانونه وژنو دبل
دپاره، وطنونه ګټو دبل دپاره، خپل خپلوان
ورونه، عزیزان، خپل مشران، خپل کشران
سپکو واو وژنو دبل دپاره! ولې؟ ځکه پښتو

نشته، پښتنو اله نشته خلك خپل شته والی
ساتی، خپل نفوس ډېر وی، خپله ډله لویوی
دخپل اولس غم کوی، خپلو وږوته ډوډۍ
پیدا کوی، خپل لغړ پټوی، خپلو
بې کوروته کورجوړ وی، خپلو وزګاروته
کار مینده کوی، خپل وطن ودانوی
خپل واړ روزی، خپل وران اخلاق سموی
خپل علم، خپل صنائع ډېره وی، خپل مدنیت
لوړوی، دخپل کام دعزت دساتنی دپاره
هاند کوی... مګر ځمونږ وجود ټوټی ټوټی دی
په غونډولو کښی ئی نه یو، بلکه دبل چا
په ټونګ په دا کښې یو چه لائی هم په وړو
وړو برخو او ټوټو ووېشو، پښتنی شته والی
نشته او نه ئې غواړو، دنفوسو ډېر والی موڅه
کوی چه په لږوالی کښی یو، دتر بګنۍ
ګوندۍ او څه او څه په نامه د پردو په
ټونګ سره وژنو خپله ډله وړ وو، خپل
نفوس لږوو، داولس غم مونشته دهر چا
سره دځان غم دی او دهېچا سره دبل غم پیدا
نشو دکوم وږی په لاس کښی که څه روټه
لیا سو کړك وی هغه هم تنی اخلو آولائی
پسی وږی کوو، لغړو ته جوړانګی هم نه
پرېږدو خلك له ګنډرو هم غړو، وزګاروته
کار مینده کول څه کوې چه لا د خلکو
نه کار آخلو او د کار خلك وزګاروو
وطن دومره ودان نشو لکه چه وران شو.

دوړ وروزنه نشته، دخلکو بد اخلاقی سمول
لاپرېږده چه سم اخلاق مو ور و ران کړل
علم نشته صنائع نشته. خپل مدنیت پسی نه ګرځو
خود اور. پا مدنیت دشپی اوور ځی ستا یو
دغه په مونږ کښی فضیلت دی، خپل کام ته
عزت ور کول آو درنول څه کوی بلکه
دشپی او ورځی ددوی په بې پټی آوسپکوالی
پسی یو، پالنه نشته، خواخوږی نشته څه
نشته څه نشته .... هیڅ هم نشته، مشران
ځانله دی، مونږ ځان له یو! ولې؟ ځکه چه
پښتو نشته پښتنواله نشته خبره لنډه کړم چه د پښتنو
دپاره که پښتو او پښتنواله نه وی هیڅ به هم نه وی.
اورو پائی توب آو نور هیڅ هم ځمونږ
په درد نخوری آو یو هم ځمونږ دردونه
نه دوا کوی ځمونږ دټولو دردونو دوا ددرستو
خوږو علاج همدغه یوه نسخه ده چه هغه
هم پښتو او پښتنواله ده ځمونږ دټولو
پرهارونو ملهم همدغه یو ملهم دی چه پښتو ده
ځمونږ دژوندانه ځمونږ دکارونو ځمونږ
ددواړو نړیو دسعادت دپاره همدغه یو
پروغرام او کړنلارده چه هغه هم پښتو او پښتنواله ده.
بیا وایم چه که چېری ځمونږ ځلمی دنورو
پېښی ونکړی او نورو پسی لاړ نشی، وړاندی
وروسته وګوری، پښتو او پښتنواله ولټوی
مینده ئې کړی، تینګه ئی کړی او دپښتو
او پښتنوالی تلقین او تبلیغ خپله وظیفه وګڼی
هاند او جدیت وکړی، دبې پښتوګی په مخکښی

کلك ودر ېږی مخه ئی ونیسی خدای ته
هیله ده چه پښتانه ژرد دغی بد حالی څخه
وووځی زه خو پخپله دپښتو دمینانو او دپښتنو
درېښتینو چو پړیو (خادمانو) ځنی یم
ما دپښتو آو پښتنوالی په رابرسېره کولو آود
پښتنو په خدمت کښی هغو مره هاند کړی دی
څو مره چه مې له واکه او توانه کېده او کېدای شو
ګمان نه کوم چه بل چا دی دغو مره
کړی وی په دغې لاری کښی ډول ډول ګرانو
سره هم مخامخ شوی یم چه شرحه ئی امکان
نلری، ټول مې ځغمل او ځغمم ئی که هر چا
دغو مره کړی وای پښتو به اوس راژوندی وه
او که هر څوك دغو مره هاندو کړی ډیره ژر به
ژوندی شی او تللې پښتو به هم بېرته راووزی
او پښتانه به له دغې بد حالی نه وو ځی
که خدای کول مونږ خپله برخه کړی، خپل
وار مو تېر کړی او لاره مو هم پښتنو ته ښودلی
او پرانتې ده او پر نورو ده چه ډګر ته راووځی
ورپسی شی او خپله برخه کار وکړی که څه
هم ما اوس هم د پښتو او پښتنو دخدمت نه
بشپړ لاس نه دی آخستی اوس هم دموجوده
شرائطو وخپله توانه سره سم هغو مره می چه
له واکه کېږی او په هغه ډول چه کېدلای
شی کوم ئې او تر مړینی پوری به هم لاس وانخلم
ځکه چه پښتون یم پښتو دپښتنو د ژوندانه
او مړینې مسئله او خبره ده، رښتیا هم دغه ده

چه هر پښتو چه دځان او درستو پښتنو پښتنی ژوند یعنی دیت، ثرا فت او سرپتوب ژوند غواړي نو هغه بی له پښتو کېدای نه شی. که پښتو منځ کښی نه وی د پښتنو ژوند به د نو کرانو ژوند وی همسی سا ، ښکل را ښکل او خواره ثکه، ثښه که ثوك ژوند بولی نو دغسي ژوند خوثاروی هم لری هر ثوك چه پښتون او په رښتیا سره دپښتانه ثوی وی نو هر ومر وبه پښتو او پښتنواله غواړی او دزړه له کومی ثاخه به ور سره مینه او محبت لری، خپله سابه ئی بولی او خپل ژوند به ور پوری تړلی کښی بنا ئی چه هر پښتون د پښتنو او بالوسیله د پښتنو دپاره مادتاً او معناً په هرې لاری او په هرې وسیلی چه کولای شی خدمت وکړی په دغی چاری کښی دحیثیت ملاحظه مورد نلری ځما خپل چرت دغه دی چه د پښتانه سړی حیثیت په پښتو کښی او د پښتو او د پښتنو په چو پړو لو (خدمت) ښی دی داشخاصو عزت او حیثیت دتولی او اولس د عزت او حیثیته سره تړلی دی که اولس عزت او حیثیت در لود نو دهغه اولس هر سړی به هم دعزت او حیثیت خاوندوی او که اولس عزت او حیثیت نه در لود نو دهغه اولس افراد هڅه عزت او حیثیت ولری ؟عزت او حیثیت په دپرا او ښه خوراك، په دپرا وښه څښاك په دپرا عیش او عشرت د دپرو سازونو او سندرو اورا دپوګانو په اوریدلو د دپرو تیاترونو او سینما وو په لیدلو او په نمر یو او جامو په دپرو عطرونو او لوندرو، په ښو ماڼیو کوټیو دګړندو ګاډو په سورلی نه دی عزت او حیثیت په دې ښې نه دی چه سړی په هره لار چه وی په سودوی په غلا وی، په جبر او ظلم وي په تالا وی په تجارت وی پیسی وګټی. عزت او حیثیت په لوئی غرور، عنوان لقب او منصب نه دی او نه دمیز ناستی او د خو شا مند ګرو خو شا مند او چا پلو سیوته عزت وبل کېږی داعزت نه دی چه تیت خلك او دغرض خاوندان، چا ته ملك خان، سر دار، بادار او څه او څه ووائی او په درواغو خبر او هغه ستاینوئی وستائی چه په دی کښی نه وی. الکه چه نا پوه په پوه، جاهل په علم، ظالم په عدالت، بخیل په سخاوت، بی زړه په زړه ورتوب، بی دیانت په دینداری او دیانت پناهی وستائی او فاسق ته ولی الله ووائی عزت او حیثیت په دغه هم نه دی چه ثوك خپل ځان غټ سړی وبولی، دخپل درندوالی دوقار، ساتنی دپاره ځانله چپړ ته ناست وی، دپرنه روځی، چپړ ته نه ګرځی او که وګرځی هم ځانله به ګرځی سربه ئی کښته اچولی وی او چاته به نه ګوری، نه به چا ته سلام آچوی نه به دچا سلام آخلی او که په چا سلام آچوی بیائی آخلی هغه هم په دپره استغنا

دکابل به عمومی مطبعی کشتی چاپ شو